

Ketabton.com

# د پښتو نظم کلاسیک ژانرونه

لیکوال :
استاد محبوب شاه ارزومند
دچاپ زیار
استاد شیرشاه همدرد

دکتاب ځانګړنې :

========================

دکتاب نوم : دپښتو نظم کلاسیک ژانرونه

لیکوال : استاد محبوب شاه آرزومند

دچاپ زیار ؛ استاد شیرشاه همدرد

اړیکې : ۰۷۰۰۶۰۱۵۰۹

**Sh.hamdard@yahoo.com**

کمپوز : احمد ضیا عبدالزي

ډیزاین : ډاکتر انتظاراحمد همدرد

چاپ شمیر : ۱۰۰۰ ټوکه

انلاین خپرونکې : کتابتون

Ketabton.com

## ددې کتاب د چاپ اړتیا

د پښتو نظم کلاسیک ژانرونه د ارواښاد ارزومند د ماسټرۍ تېزس(پوهنلیک) دی. په دې کتاب کې د پښتو ادبیاتو په باب ښه څېړنه شوې .دغه راز د پښتو په کلاسیکو ادبي اثارو هم په زړه پورې خبرې شوي. په ځانګړي ډول د پښتو نظم کلاسیک ژانرونه پکې ښه تشریح شوي دي.

د کلاسیک کلیمه چې موږ یې په ورځنیو خبرو کې ډېره استعمالوو ،له رسنیو یې هم اورو ،کله نا کله یې ځینې خلک نا سمه کاروي ،په دې کتاب کې ډېره ښه مانا شوې ،څېړل شوې،ریښه یې پلټل شوې او اصلي مصدر یې څرګند شوی، چې ښایي لوستونکیو ته په زړه پورې وي.

بوللّه(قصیده) ، غزل ، څلوریزه(رباعي) ، پاړکی (قطعه ) او له دوه ییز (مثنوي ) نه نیولې تر لسیز (معشر) مستزاد ، ترجېع بند او ترکیب بنده پورې چې د پښتو دیواني نظمونو مشهور ډولونه دي،د بشپړ پېژاند(تعریف)، تاریخي شالید او بېلګو په راوړلو څېړل شوي او کافي مالومات وړاندې شوي دي .

دا هغه څه دي چې ډېرو خلکو ته به ، په ځانګړي ډول ، د ادبیاتو پو هنځي محصلینو او د شعر و ادب مینه والو ته،چې ډېری به یې ورسره اشنا وي ، خو په فني ډول ښایي پرې ونه پوهېږي،په زړه پورې وي. یا هغه چا ته چې په دې برخه کې غواړي لا ډېرې څېړنې وکړي،د یو علمي ماخذ په توګه به ورته ډېر ګټور وي، همدارنګه د هغه چا د ریاضت لپاره به هم ښه اغېزمن وي، چې شعر و شاعرۍ ته یې اوس اوس مخه کړې وي .

ارواښاد ارزومند په پوهنځي کې زمونږ د لیکوالۍ استاد و . په ټولو ډېر مهربان او لوراند و . ارمان یې دا و چې ځوان کول ښه وروزي او ټولنې ته یې با سواده وړاندې کړي . د ژوند ډېره برخه یې دې ته وقف کړې وه ، خو دریغه چې ژوند ورسره تر پایه یاري ونه کړه او دا مقدس ارمان یې هغه دنیا ته له ځانه سره یووړ.کاش ژوند ورسره یاري کړې وای او دا ارمان یې پوره شوای وای.

د اروا ښاد د ارمان پوره کېدو په موخه د ځوان کول روزنیز فر هنګي ټولنې و پتیپله چې دا کتاب چاپ کړي .له یوې خوا به مو د ادب مینه والو ته د پښتو نظم کلاسیکو ژانرونو په باب غني مالومات وړاندې کړي وي بل لوري ته به د ارواښاد نوم ژوندی ساتل شوی وي.

په پای کې له ګران احمد ضیا عبدالزي نه مننه کوم چې دا کتاب یې په خپلو هنرمندو ګوتو د چاپ تر بریده ورساوه.

ډېر مو سر نه خو ږوم ،د کتاب لوستلو بلنه درکوم.حوصله مو پراخه اوسه.

د رنښت
شېر شاه همدرد
جلالکوټ
۱۳۸۹ لمریز، د غبرګولي پنځمه

Ketabton.com

# دپښتو نظم کلاسیک ژانرونه

ارزکتنه :

ښاغلی محبوب شاه ارزومند زموږ دپښتو ژبې او ادب دڅانګې له هغو څووتليو ماسترکانديدانو څخه ګڼل کيږي ، چې په خپله څانګه کې دهرې څېړنې او ليکنې له توغه او توانه وتلی شي . له همدې کبله مو ورته دغسې يوه غوره سکالو ( موضوع ) ((دپښتو ژبې دنظم کلاسيک ژانرونه )) دپوهنليک لپاره وټاکله او ده هم دڅانګې او بيادلارښود په توګه زما له سپارښتنې او لارښوونې سره سم لومړی دموضوع د تيوريک بنسټ په توګه اړوندې پيژندنې او نومونې او بيا په ځانګړې ډول د ((کلاسيک)) پرجاج او مانا يو لړ اړينې خبرې په يوه جلا څپرکي کې ځای کړې او ورپسې يې په دويم څپرکي کې سکالو تر هر اړخيزې څېړنې سپړنې او شننې لاندې ونيوله چې دادی ديوه کره پوهنليک په بڼه يې ددفاع لپاره زموږ مخې ته ږدي .

دغه دماستری پوهنليک يوه وېره، سريزه او يوه کېښکلې پايليزه هم لري چې په سريزه کې دسکالو پر موخه ، ګټه ،څيړندود او کار دود رڼا اچول شوې او په پايليزه کې هماغه غوره ټکي په نښه شوي دي چې ددغه پوهنليک نوښتي اړخ زياتوي .

ښاغلي ارزو مند په خپله دغه څېړنه کې له ګڼو ماخځونو څخه ګټه اخيستې او له دې سره يې ټول هغه اړونه ( نورمونه ) پرځای کړي دي چې نومهالنی بيبلوګرافي يې غوښتنه کوي .

دپايليکونو دزاړه دود پرځای يې دننه په متن کې دريفرنس په توګه پرليکوال او مخګڼې بسنه کړی او دکتاب پای ته يې بشپړ اخځليک په الفبايي اوډون سره کښلی دی .

زه دلارښود استاد په توګه دښاغلي ارزومند دغه پوهنليک له هره پلوه لوړ ارزوم او دماستری دپوړی لاسته راوړلو لپاره يې بسيا بولم .

دکانديد دلازياتو پوهنيزو ، څېړنيزو ، بريو او برياوو په هيله .

په درناوي

پوهانددوکتور مجاوراحمدزيار
دژبپوهنې او ادبپوهنې استاد
وږی ۱۳٦۹

**نظریه !**

دپښتو ژبې دنظم کلاسیک ادبي ژانرونه دپښتو ژبې دنظم په لوی سمندر کې داسې یوه په زړه پورې موضوع ده چې دپښتو ژبې او ادب ډیر ارزښتناک او په زړه پوری څېړکي جوړوي .
ښاغلي محبوب شاه ارزومند نوموړې موضوع دماسترئ دتیزس دلیکلو لپاره غوره او په زړه پورې ګټلي او دڅانګې له خوا هم دغه موضوع منل شوی وه .
دغه اثر یوه سریزه ، دوه څپرکي او یوه نتیجه لري چې په پای کې یې ماخذونه په معیاري بڼه راغلي دي .
په لومړي څپرکي کې ادب ، دادب ډولونه او ادبي نومونې ترسرلیک لاندې بېلابېل ادبي تیوریکي مسایل ښودل شوي دي .
په دویم څپرکي کې چې دلیکنې اصلي او اساسي برخه جوړوي دپښتو نظم دخاصې تاریخي دورې دنظم په جوړښتونو ( شکل او محتوا ) باندې په هر اړخیزه توګه رڼا اچول شوې ده . دکلاسیک نظم دژانرونو دا ار دڅیړنې ارزښتناکه ښکارندویه ده .
څنګه چې ارزومند دننګرهار پوهنتون استاد دی نو له ډیرو ستونزو سره یې خپل اثر دماسترئ د دورې په ټاکلې موده کې په بریالیتوب سره بشپړ کړی دی ، هلې ځلې او کار یې دستاینې او تائید وړ دی .
دلارښود استاد غوره نظریې یې ترلاسه کړي دي . زه هم دغه اثر په خپل وار سره دماسترئ دتیزس لپاره بشپړ او ارزښتناک
کار بولم .
دده د لابریالیتوبونو په هیله .

پوهندوی دکتور زرغونه زیور( رښتین)

Ketabton.com

نیولیک ( فهرست )

سریزه
الف :-لومړی څپرکی : ادب ، دادب ډولونه او ادبي نومونې
١- دادبیاتو تعریف او پېژندنه .
٢- دادبي زېږونو ډولونه .
٣-دپښتو کلاسیک ادبي اثارو ته لنډه کتنه .
٤- نظم څه ته وايي .
٥- دشعر لنډتاریخي سوابق او څرنګوالی .
٦- دشعر تعریف .
٧- کلاسیک ، مانا، مفهوم او پېژندنه .
٨- دپښتو ادبیاتو دریځ په کلاسیک پېر کې .
ب :- دویم څپرکی : دپښتو ژبې دنظم کلاسیک ژانرونه .
١- بوللـــــــه (قصیده ).
٢- غزل.
٣- څلوریزه (رباعي) .
٤- پاړکی ( قطعه ) .
٥- دوه ییز (مثنوي).
٦- څلوریز ( مربع) .
٧- پنځیز ( مخمس ) .
٨- شپږیز ( مسدس ) .
٩- او ییز (مسبع ) .
١٠- نهه ییز ( متسع ) .
١١- لسیز ( معشر) .
١٢- مستزاد .
١٣- ترجیع بند.
١٤- ترکیب بند .
١٥- دپښتو کلاسیک نظم مانیز ډولونه .
١٦- دموضوع له پلوه دنظم ډولونه .
i. اخلاقي شعرونه .
ii. وصفي شعرونه .
iii. قصصي شعرونه .
١٧- پایلیزه ( نتیجه ) .

Ketabton.com

سریزه :

دعلمي او ادبي اثارو دلیکني په برخه کې دترمینالوجیو (اصطلاحاتو) څرګندول او پېژندل په تېره بیا دماسترۍ دتیزس او د ډاکترۍ د ډستریشن dissertation په وخت کې دیوه غوره علمي څېړنیزې اړینې په توګه ګڼل شوی او منل شوی دی . له دې امله دماسترۍ او ډاکترۍ دوروستي سمستر زده کوونکي دتیزس یا دسټریشن په لیکلو کې دې ته اړ ایستل شوي دي چې نوموړو زده کوونکو دیوې علمي اړینې په توګه دخپلې پاڼې (مسلک) سره برابر دیوې ځانګړې موضوع په روښانولو او څرګندولو کې یې څېړنه وکړي او خپل تیزس یاډیسټریشن بشپړ کړي .

دهمدې اړتیا له مخې ماته دپښتو ژبې او ادب څانګې له خوا ددې څانګې سره دمفاهیمې په نتیجه کې دماسترۍ دتیزس دلیکلو لپاره دا دنده را وسپارل شوه چې دپښتو ژبې دکلاسیک نظم دژانرونو په برخه کې ددې څانګې دپیاوړي استاد ښاغلي پوهاندمجاور احمدزیار په لارښوونه څېړنه وکړم .

ترکومه ځایه چې په دې برخه کې دڅېړنې مواد ترلاسه شو ترهغې، او هم دخپل لارښود استاد ښاغلي زیار په اغېزمنو لارښوونو مې پردې اثر څېړنه پیل کړه .

دڅېړنې په بهیر کې راته جوته شوه چې دادبي موضوع ګانو په هکله څېړنه ستونزمن کار دی چې ډېر غور او پلټنه غواړي په تیره بیا د ادبي ترمونو (نومونو) په برخه کې دغه ستونزې خورا زیاتې دي ، دبیلګې په توګه یو ادب څېړونکی دخپلو څېړونو په پایله ( نتیجه )کې دې ته اړ دی چې دمنلې ډلبندۍ له مخې ادبي اثار پر دریو ډولوونو وویشي ، ایپیک (داستاني ) ، لیریک( غنایي ) او ډرامتیک ( تمثیلي ) . چې هریو ډول یې پر ډولونوویشل کیږي ، لکه ډراماتیک ډول چې درې ډوله لري :

تراژیدي ، کومیدي ، اومیلو ډرامه او یاهرشکل او ډول پرژانرونو ویشي لکه غزل چې په تصوفی ، اخلاقي ، عشقي او نورو ژانرونو ویشلی کیږي .

دادبیاتو په یوه قاموس کې ادبي ژانرونه پرتراژیدي ، کومیدي ، ایپیک او لیریک ویشل شوي دي .

په همدې ډول ځیني ادبپوهان او ادبي کره کتونکي په خپلو منځو کې دنظر یوالی نه لري ، دساري په توګه ځیني ،د ادبي مکتب او ادبي میتودونو ترمنځ توپیر نه کوي او ځیني بیا برعکس نظر لري ان دشعر دپېژندنې او تعریف په اړه هم دادب پوهانو ترمنځ دنظر یوالی نه شته . په دې برخه کې معیارونه ټاکلی برید لري .

دژانر دکلیمې په برخه کې ویل کیږي چې د ډول یا ځېل ، صنف او ټیپ د (بیلګې ) په مانا کارول کیږي . په دې

Ketabton.com

برخه کې دفلکلورپيژندنې ترسرليک کابل مجله کې ليکل شوي :
دژانر اصطلاح زموږ دليکوالو لخوا زياته استعماليږي او بحثونه پرې کيږي ، نو ښايي چې دغه اصطلاح يوڅه توضيح شي :
ژانر فرانسوي کليمه ده چې په انګريزي کې دفرانسوي په شان تلفظ کيږي ، ژانر په لغت کې ډول ، صنف ، ټيپ (بيلګې ) ته ويل کيږي . په ادبي کره کتنه کې ژانر دادبي اثارو پرجلا ټيپونو يا کته ګوريو دلالت کوي ، چې دجلا والي معيار يې فورم (شکل) يا تکنيک دى يا په بله ژبه ادبي ژانرونه دشکل يا تکنيک په اساس يو له بله بيليږي ...))
(روهي : ۳۳-مخ١٣٦٥ ) .
همدارنګه ( دوست شينواري ١٣٦٥،مخ١٦٥) وايي : دادب تيوري کې ادبي انواعو او ډولونو مثلاً ډرامې ، رومان ، قصيدې ته ژانر ، نوع، قسم ويل کيږي . ))
له پورتنيو څرګندونو څخه دې پايلې ته رسيږو چې ژانر دادبي اثارو جلا ټيپونه دي ، چې دجوليز جوړښت له مخې يې بريد ټاکل کيدی شي .
دساړې په ډول کله چې ادبيات په دريو ډولونو ، ايپيک (حماسي) ، ليريک بدلې( غنايي ) او ډراماتيک ويشل کيږي ، نو په دې هر يوه ډول کې نور ډولونه او ژانرونه چې هريوه يې دځانګړي جولې (شکل ) درلودنکي دي ، راتلای شي.
لکه ادبي ټوټه ، ناول ، داستان ، رومان اونورچې دايپيک ډول له ادبي ژانرونوڅخه ګڼل کيږي همدارنګه قصيده ، غزل ، مثنوي ، قطعه ، ترجيع بند ، ترکيب بند او نور دليريک يا بدلې (غنايي ) ډول ادبي نظمونو له ډلې څخه دي او ياداچې کوميډي او تراژيدي، د ډرامې ډولونه او ژانرونه دي .
پورتني ادبي جوړښتونه (نظم دى که نثر )دجولې او تکنيک له پلوه دځانګړو او جلا ټيپونو او جوړښتونو درلودنکي دي ، چې دغه هره يوه جوليز جوړښت ته ژانر وايي .
ويلای شو چې په پښتو ژبه کې د کلاسيک نظم ژانرونه دهمدې جوړښت له څکې څخه برخمن دي . دغه ادبي ژانرونه دجوړښت او جولې له مخې دځانګړي ټيپ او بريدلرلو له مخې پيژندل کيږي . دپښتو کلاسيک ادبي ژانرونه چې ديوه ځانګړي تاريخي ادبياتو څېړنه ده ،يوازې منځنی پيړی په بر کې نيسي. داخبره او څېړنه په دې مانا نه ده چې ګوندې له دې مهاله پخوا پښتو ژبه دادبي نوښتونو په ډګر کې څه نه لري . زموږ اوسنی څېړنه دپخوانيو ادبي څېړنو ادامه ده . يعنی دپښتو ادب داوسنی ودې

ځرنګوالی يوازې په اوسني مهال کې نه څېړل کيږي ، بلکې دپښتو ادب اوسنی وده او پرمختيا دتير مهال او اوس مهال په تاريخي بهير کې څېړل کيدای شي ، ځکه دپښتو ادب اوسنی وده دکلاسيک پېر او دکلاسيک پېر دادبياتو وده او ځرنګوالی دلرغونې پېر داوږده تاريخي بهير پايله ده .

دپښتو او دپښتنو دژوند له ځرنګوالي څخه ځرګنديږي چې پښتو ادب دبېلابېلو چاپيرياپلونو او مهالونو په اوږدوکې ډول ډول ستونزې ګاللي او ربړونو په تيرولو ، زمونږ ترمهاله رارسيدلی او ديوه غوړيدلي ادب بڼه يې ځانته غوره کړې ده .

په لومړنيومهالونوکې دپښتو ادب بنسټ دنړی دنورو هېوادونو په څېر دټول ولس له خوا ايښول شوی چې دزيږونې او نوښت وياړ يې په ځانګړو افرادو نه بلکې ټولنې او ولس پورې اړه لري . دټولنې دودې او پرمختيا په پايله (نتيجه) يعنی دمهال په تيريدو سره ادبي نوښتونه او زيږونې جلا جلا ځانګړتياوې غوره کوي او په ځاني (انفرادي) توګه له ټولنيز ژوند څخه دهغو ازمايښتونو په مرسته چې دټولنيز ژوند په بهير کې شاعرانو او دهنري اثارو دزيږندويانو په برخه کيږي دنويو ادبي او هنري اثارو په زيږونه اوهڅونه لاس بری مومي .

دپښتو ژبې دشاعرانو او ليکوالو دغه هنري او ادبي برياوې هم په لرغونو او هم په کلاسيک پېر کې خورا زياتې بيلګې لري . دنظم په برخه کې داسې ښکاري چې په لرغونو پېرونو کې دنظم زيات ډولونه دپښتو ژبې په وګړنيو وزنونو يعنی سيلابونيک وزن کې ويل شوي دي . مګر د ديواني شعرونو په رامنځته کيدو سره چې په منځنۍ پيړۍ کې يې دلومړي ځل لپاره په پښتو ژبه کې يې وياړ ملا ارزاني په برخه شوی، پښتو شعرونه او نظمونه دجوليز جوړښت له امله عربي او فارسي نظمونو او شعرونو ته نږدې کيږي . په دی پېر کې ليکني ادبيات چې په خپله دشاعر له خوا ليکل شوي، هم رامنځته کيږي . ماهم په کلاسيک پېر کې چې ددیواني شعرونو او نظمونو ددوديدو مهال دی ، خپله څېړنه دنظم په برخه کې ترسره کړې ده .

ددې اثر په بشپړيدو کې له پوهاند زيار څخه مننه کوم ، ځکه نوموړي ديو زړه سواند استاد په توګه په ډيرې مهربانۍ اوپراخه ټنډه دهغو ستونزو په اوارولو کې له ماسره مرسته کړې چې ورسره مخامخ کيدم ، که څه هم دغه اثر به له نيمګړتياوو څخه ډک اثر وي خو بياهم هيله لرم چې په کلاسيک پېر کې دنظم دادبي ژانرونو په برخه کې په زړه پورې مطالب ولري .

Ketabton.com

په درنښت

محبوب شاه ارزومند

## لومړی څپرکی

### الف : ادب ، د ادب ډولونه او ادبي نومونې :

#### ١- دادبیاتو تعریف او پیژندنه :

ددې خبرې یادونه په کار ده چې ادبیات یوه ټولنیزه ځان خبري (خوداګاهي) ده چې ددې پدیدې اومه مواد ژبه ده . ژبه یوه ټولنیزه پېښه ده چې په ټولنه کې دانسانانو دکار په پایله (نتیجه) کې رامنځته شوې ، په ټولنه کې یې وده کړې او دټولنیز ژوند په اوږده بهیر کې دودې او بشپړتیا بېلابېل پړاوونه یې تیر کړي دي .

ادبیات له ژبې سره نه شلیدونکی اړیکې لري . دا چې ژبه په ټولنه کې ژوندی ده او له ټولنې دباندې شتوالی ممکن نه دی ، همدارنګه ادبیات هم له ټولنې او ټولنیز ژوند سره نه شلیدونکې اړیکې لري . له دې ځایه ویلای شو چې ادبیات دټولنیز شعور یوه برخه ده .

دهر ولس ، ملت او خلکو ادبیات په ټاکلي تاریخي پوړ کې دټولنیزو ، اقتصادي او سیاسي شرایطو تراغېزې لاندې رامنځته کیږي . چې په دې ډول سره ادبیات له ټولنې او ټولنیز ژوندڅخه دباندې څېړل کېدای نه شي .

دادبیاتو موضوع انسان او دټولنیز ژوند څرنګوالی دی .

یو ادب پوه دادبیاتو دپیژندنې او تعریف په برخه کې داسې لیکي : (( ادبیات په شکلو الفاظو او کلیمو دیوه ولس دافکارو وروستنی او عالي افاده ده ، چې دودې او انکشاف ارګانونیک دوام یې مهم خصوصیت دی . او له ګړنې (شفاهي) او لیکنې (تحریري) عنعنې بېلوي )) ( جاج لیکچرنوت )

داچې ادبیات په ټولنې پورې اړه لري او دټولنیزژوند په څلونه ( انعکاس ) کې ستره اغېزه لري نو ویلای شو چې دټولنیزژوند په بهیر کې له ټولنیزو بدلونونو سره سم بېلابېلې بڼې غوره کړي دي . کله یې مخې ته ستونزې پیداشوي او کله دا ستونزې له منځه تللي او د ودې اوپرمختګ په لور یې اوچت ګامونه پورته کړي دي .

خودا څرګنده ده چې ادبیات دټولنیز ژوندپه اوږده بهیر کې دنورو ټولنیزو پدیدو په څېر د اوړون او بدلون څکې

Ketabton.com

يې ليدلي دي . دهرې ټولنې او ملت ادبيات دځانګړي تاريخ درلودونکي دي ، چې دټولنيزو بدلونونو نښې په کې ځليږي .
حبيب الله ، جاج وايي : ( ... دهر ملت ادبيات ځانته تاريخ لري چې مضمون يې دملي شعور تدريجي تکامل دی . له تاريخ نه يې مراد دادی چې دتدريجي تکامل دعلمي قانون مندی له مخې ديو ملت ادبيات بايد داسې يو له بلې څخه راوتلې مختلفې دورې ولري ، چې داخلي ارګانيک او سيستماتيک دوام او انکشاف يې په کې څرګند وي . او هره وروستنۍ دوره يې په نسبي توګه تر مخکنۍ دورې بشپړه او دفکري مضمون په لحاظ نوې وي . ))
دپورتنيو څرګندونو له مخې ويلای شو چې : ادبيات ديو ولس او ملت دټولنيز شعور يوه برخه ده او انسانان ددې شعور په وده او بشپړتيا کې په بېلابېلو تاريخي پېرونو کې دټولنيز ژوند له څکې څخه برخمن دي . دهرې ادبي پديدې او ژانر زيږنده دټولنيز ژوند له هستې څخه دی او ادبيات ، ادبي اثار او ادبي ژانرونه خپل سرې پديده نه ګڼل کيږي ، بلکې دټولنيزې هستۍ زيږنده ده او ددې ټولنيز تاريخي بهير پايله (نتيجه) بلل کيږي .
له دې ځايه ويلای شو چې ټول ادبي نوښتونه او اثار دتاريخ په اوږدو کې په بېلابېلو مهالونو او پېرونو کې راټوکيدلي دي . دهنري اثارو زيږندويان دخپلو هنري اثارو په را زيږونه کې له ټولنې او ټولنيزژوند څخه اغيز من شوي او دخپلو هڅو ازمايښتونو په مرسته چې ددې ژوند په بهير کې ترلاسه کړي دي ، دهنري او ادبي اثارو په زيږونې پيل کوي . ځکه ادبيات په يوه ټولنه کې ديوه ځان خبرې پېښې په توګه کړنه کوي ، او دټولنيزژوند په ځلونه کې دتاريخ په بېلابېلو پوړيو کې دجولې (شکل ) او منځپانګې (مضمون) له پلوه د ډولونو او ژانرونو په زيږونه کې دودې او بشپړتيا لاره وهي . ادبيات او ادبي ژانرونه داوږده تاريخي بهير پايله ده .
ددې ټولو ادبي نوښتونو او زيږونو سرچينه ټولنيز ژوند دی .
د ادبياتو د ډولونو او ژانرونو په برخه کې دادب تيوري اساس اېښودونکي وايي : ادبيات په عمومي ډول دتاريخ په بهير کې له دوو خواوو څخه څېړل کيږي چې يو يې ميتود او سبک دی او بل يې شکل او مضمون يا دفورم دجوړښت او دافادې دطرز په لحاظ ، نوعه ، ډول او ژانر باندې ويشل شوی دی )) ( دوست شينواری : ١٣٦٥،١٦٥ مخ ) .

ادبیات ټولنیز واقعیتونه دهغو انځورونو په مرسته څرګندوي ، چې دژبې په وسیله جوړیږي او بې له انځوره، کیدون نه لري .

٢- دادبي زيږونو ډولونه :-

ادبي اثار دتاریخ په اوږدوکې په بېلابېلو ډولونو اوژانرونو وېشل شوي ،چې هره یوه یې دځانګړي تکنیک او جولې درلودونکي دي. په دې برخه کې دوست شینواری وایي : په ډیر لرغوني وخت کې ټول ادبي اثار په دریو کټه ګوریو : رزمي (حماسي یاایپیک ) ، بزمي یابدلي (لېریک ) او ډراماتیک ویشل کیدل .

داویش په دې بنا ووچې لیکوال دژوند یو اړخ دطبعیت یوې خوا او دتفکر او احساس انعکاس او تصویر ته له کومې لارې وروړاندې کېده . ))

همدارنګه نوموړی دپورتني ادبي وېش په برخه کې په لاندې ډول څرګندونه کوي : رزمي (ایپیک ) لاره دانځورګر په نسبت دبهرنۍ نړۍ دهنري ایجاد اساس وو.

بزمي تصویر دهغه شاعرانه تفکر او احساس انعکاس وو چې هنرمند ته دژوند او طبعیت دیوې پېښې په اثر راپیداکېده .

ډراماتیکي طریقې په داسې حال کې چې په بزمي توګه یې دبېلابېلو عامو څېرو ، کرکترونه افاده کول او په ارګانیکه توګه دلومړي دواړو تواميت برابرول . په بل عبارت حماسي انځور په سندرو ، کیسو ، دحیواناتو په کیسو ، په قصیدو ، داستانونو ، لنډو کیسو ، رومانونو او هنري یادښتونو کې بزمي انځور په سندرو ،غزلو ، چاربیتو حتی ساندو او حجوو کې او ډراماتیکي انځور دتراژیدی ، کومیډي ډرامې ( په محدودمفهوم ) فکاهیاتو او نورو کې منځ ته راځي ( دوست شینواری ١٦٥،١٣٦٥مخ )

همدارنګه ددې ادبي وېش او کټه ګوریو دڅرنګوالي په هکله چې دجولې یاشکل او دمنځ پانګې یا مضمون له پلوه دهنري او ادبي اثارو په ژانرونو او ډولونو پایله مومي په ادبي فنونو کې داسې لیکل کیږي ، چې دهغې لیکنې پښتو ژباړه کټ مټ لیکل کیږي .

شکل او منځ پانګه په ځانګړې توګه په هنر کې د ډیر ارزښت درلودنکي ده . دلته هم لومړیتوب منځ پانګې ته دی ،ځکه شکل چې دډولونو او ژانرونو په څېر رامنځته کیږي په خپل وار سره دارزښت درلودنکی دی په دې ډول دجولې دمطلق کولو پایله فورمالیسم دی . دنوي والي اصل په منځپانګه کې دی مګر طبعي ده چې په منځپانګه کې نوښت ناچار دجولې نوی والی له ځانه سره لري . )) ( قویم :٢٤،١٣٦٣مخ )

و- ي بیلنسکي درې ډوله بدیعي ادبیات په ګوته کوي .

١- حماسي ادبیات یا ایپیک .

۲-غنايي ادبيات يا ليريک .
۳- ډرامي ادبيات .
دهنري ادبياتو په جولې کې چې دادبي اثارو تکنيکي خواوې بلل کيږي ، دهنري او ادبي اثارو زيږندويان ډول ډول ټولنيزې منځپانګې (مضمونونه ) ځايوي ، که څه هم دغه زيږونې په بېلابېلو جولو کې راڅرګنديږي چې دځانګړو بريدونو او پرنسيپونو درلودنکي وي چې دغه جوليزو ځانګړتياوو ته ادبي ډول او ژانرونه وايي . دهنري ادبياتو نوښتګران او زيږندويان په هرمحل کې ددې فن استادان او ماهران دي چې دځانګړو استعدادونو ، ذوق اوسليقې له مخې دهنري بديعي اثارو په زيږونه ، نوښت او پيداکوونه پيل کوي چې دډول ډول ادبي ژانرونو د راپيداکېدو سبب ګرځي .
دادبي اثارو ځانګړتيا انځور او تمثال دی چې دادبي اثارو په جولې او منځپانګه کې راڅرګنديږي .
د(بحثهای درزمينه ادبيات ، موضوع و انواع کتب های ادبي ) کې ليکلي: دادبي اثارو منځپانګه دجولې په واسطه راڅرګنديږي . جولې په حقيقت کې داسې وسيله ده چې داثارو منځپانګه دهغې په واسطه څرګنديږي .
(قويم :۱۳٤۹،سريزه ، ب ) .
په پورته ډول دادبي اثارو په جولې کې دادبي ډولونو د زيږيدنې په اړه موضوعات راڅرګند شول . ددې مطالبو اړينه داوه چې پوه شو، پښتو ادب د پښتون ملت او ولس دټولنيز ځانخبري ( شعور) ديوې برخې په توګه ددې ولس په تاريخي بهير کې دودې او بشپړتيا لاره وهلې او په دې تاريخي بهير کې د ډول ډول ادبي اثارو په زيږونه بريالی شوی دی . ددې ولس د اوسمهال ادبيات دتېر مهال منطقي دوام دی ، په همدې اساس دکلاسيک پېر ادبي اثار او ادبي زېږونې دلرغوني پېر منطقي ادامه بلل کيږي .
په کلاسيک پېر کې دپښتو ادب پر ادبي ژانرونو او په ځانګړې توګه دنظم پر ژانرونو خبرې کول ددې مهال له کلتوري نورمونو او ټولنيزو ارزښتونو نه دباندې نه څېړل کيږي . ځکه ديوه ملت ادبيات دهغه ملت دتاريخي ودې او انکشاف هنداره ده . له دې امله ويلای شو چې دکلاسيک پېر د ادبي ژانرونو څرګندول دهمدې پېر داقتصادي ، ټولنيز او سياسي شرايطو زېږنده ده . او له دې شرايطو څخه يې دباندې څېړل ممکن نه دي .
په لنډه توګه ويلای شو چې ددې پېر او مهال دشاعرانو او ليکوالو ادبي زېږونې او نوښتونه ځانته ټولنيز ارزښتونه لري چې ددې پېر دټولنيز ژوند پرڅرنګوالي ډېره لګوي او ادبي اثار، ددې پېر دژوند ډول اوڅرنګوالی په خپلو ډولونو او ژانرونو کې څرګندوي .
ددې لپاره چې موضوع مو روښانه کړې وي اړينه ده چې ددې

Ketabton.com

مهال پر ادبي څرنګوالي په لنډه توګه یو ځغلنده نظر واچوو .

٣- دپښتو کلاسیکو ادبي اثارو ته لنډه کتنه :

دپښتو کلاسیک نثر او نظم چې دادبي اثارو غوره برخې دي دلرغوني پېر دتاریخي بهیر پایله ده ددې پېر ادبي اثار دپښتو ادبیاتو لویه ادبي پانګه او ددې ټولنې تاریخي ویاړ بلل کیږي .

دادبیاتو دنثر او نظم دواړه برخې دتاریخ په اوږدو کې ددې ملت دټولنیزو اوړونونو سره جوخت دجولې او منځپانګې له پلوه بدلون او اوړون موندلی او هرمهال ، ددې ولس دټولنیز شعور دیوې برخې په څلونه کې رول لوبولی دی .

په عمومي ډول ادب پر نظم او نثر وېشل کیږي : دختیځ خلک منظوم ادب ته شعر هم وایي چې ځیني بیا ځېنو نثرونو ته هم شعر وایي . نثر او نظم دادبیاتو دوې غوره او اساسي برخې دي چې پښتو ادب هم ددې ډول ادبي پانګې په لرلو ، ډېر شتمن دی اود ادبي ډولونو او ژانرونو په بېلګو سمسور باغ و بڼ لري .

- نثر اونظم دواړه دیو هېواد او ولس فرهنګي پانګې دي چې دادبیاتو غوره څانګې ګڼل کیږي . استاد قیوم قویم دپوهنمل راعي دوینا په اساس د ( بحثهای در زمینه ادبیات موضوع ومکتب های ادبي ) کې داسې وایي : (( دادبي ډولونو اساسي بېلګې دنثر ، شعر ، داستان او ډرامي ادبیاتو څخه عبارت دي . ګویا نوموړی داستان او ډرامه ، چې ما د دري نثر د ډولونو په بحث کې دپوهنوال نګهت دطرحو او لیکنو څخه په ګټي اخیستني ، تر څېړني لاندې نیولي وه . دنثر له ساحې څخه باسي .)) (قویم : ١٣٤٩،٤٢مخ )

دپوهنمل راعي له لیکنې څرګندیږي چې نثر او نظم دادبي اثارو دوه اساسي او غوره خواوې دي . دپښتو ادبیاتو دتاریخ له څېړلو څخه جوتیږي ، چې د نظم او نثر ادبي ډولونه دنړۍ دنورو هېوادونو په څېر دلیک او کتابت راپیداکېدو سره سم پرې غږیدلای شو . داڅرګنده ده، کله چې لیکني اثار نه وي رامنځ ته شوي ددې اثارو پرڅرنګوالي باندې خبرې کول ګران کار بریښي .

څرنګه چې په پښتو ادب کې لیک وروسته دود شوی نو څرګنده ده چې لیکني ادبیات یې هم وروسته پیل شوي دي .

په پښتو ادبیاتو کې ترلیکني ادبیاتو دمخه ولسي ادبیاتو شتوالی درلود ، چې سینه په سینه دمهالونو په اوږدو کې ددې ولس په خولو کې سیمه په سیمه ګرځیدلی او تردې مهاله رارسیدلی دی . ولسي ادبیات له هغه ځایه

Ketabton.com

چې خوله په خوله د پښتني ولس په کورونو ، حجرو ، ډېرو ، کلیو او بانډو کې دخلکو په خوښی ښادی او نورو دودونو کې دګډون په لړلو سره شپې ورځې تیرې کړې دي نو اورومرو امکان لري چې ددې ادب پالونکي ولس دغه ادبي ژبنی پانګه به یا له منځه تللي وي یا هیره شوې وي او یاڅه ناڅه بدلون او اوړون په کې راغلی وي . خو د لیکني ادبیاتو په دود کیدو سره ددې ژبې ادبي مرغلرې د ورکیدو او له منځه تللو څخه څه ناڅه ژغورل شوي دي . لیک چې دپوهولو راپوهولو غوره برخه ده دنورو ټولنیزو پدیدو په څېر دیو هېواد دکلتور ارزښتناکه برخه جوړوي . له نیکه مرغه دلیک او کتابت دودیدل زموږ دهېواد دیوې کلتوري پېښې په څېر ددې هېواد دلیکوالو او شاعرانو هنري نوښتونه او اثار ، تر یوې اندازې خوندي ساتلي دي . دلیک رامنځته کیدل دیو هېواد او ولس دکلتوري پرمختیا نښه ده . داچې دټولنو دپرمختګ بهیر سره ورته نه ده ، دلیک پیدایښت هم چې دټولنو دپرمختیا یوه برخه ده ویلای شو چې دغه پېښه هم دټولو ولسونو ترمنځ د دودیدو له پلوه ورته والی نه لري . یعنی لیک په بېلابېلو هېوادونو ، ملتونو او ولسونو کې په بېلابېلو مهالونو کې دود شوی دی .

زموږ په هېواد کې دلیک د دودیدو په هکله دامیر کروړ یادکې داسې لیکلي دي : (( یا خو په اصل کې پښتانه هغه پړګنې دي چې تر زیاتره ګاونډیو ولسونو یې ناوخته په لیک پیل کړی او نن هم لا ډیره فیصدي له دې ټولنیز ضرورت څخه د استغنا احساس کوي . ددې خبرې یوازینی تاریخي عامل دتولید هغه کوچنی او کلیوالي طرز دی چې پښتون یې په خپل ژوند راضي ساتلی او دلیک دپروسې ضرورت یې ځنډولی دی . له همدې جهته دپښتو د کتبي ادبیاتو وثایق چې د دې ژبې دپراخې ادبي زمینې له موجودیته حکایت وکړي په لږه اندازه ایجادشوی دی . .. همدارنګه وایي چې : دسیمې دتاریخ تر هغو شرایطو لاندې چې پښتون دخپلې مالداری په ژوند کې خوشاله ساتي ، پښتون دې درجې ته ونه رسیده چې دځان لپاره دلیک او کتابت سمبولونه منځ ته راوړي . خو کله چې داژبه لیک ته اړه شوه نو همدا وخت دعربي او پارسي ژبو دذهني او سیاسي نفوذ په ساحه کې دننه ، سمدستي دهغو ژبو دتیارې او چمتو وسیلې څخه استفاده پیل کړه ... )) ( نومیالي : ۴۸۵،۱۳۶۲-۴۸۶ مخ ) .

دا وو دپښتو ژبې دلیک څرنګوالی چې په دې ډول سره دپښتون ولس له خوا کارول شوی دی ، نو څرګنده ده چې په داسې یو حالت کې دپښتو ژبې ادبي پانګې به په څه ډول کټ مټ له ورک کیدو څخه ساتل شوې وي . همدارنګه په پښتو ژبه کې دنظم دویلو دود دنثر تر لیکلو لرغونی

Ketabton.com

تاريخ لري . په پښتو ژبه کې دنثر خوا خورا کمزوري ده او دنظم په برخه کې ادبي بېلګې ډېرې زياتې دي مګر دنثر په برخه کې ډېرې لږې بېلګې لرو . دپښتو نثر ته دکره کتنې په اثر کې داسې وايي : (( پخوانو خلکو خو نثر نه دی ليکلی او هغه چاچې کښلي هم دي هغه خونيم نثر ګڼل کيږي او دشعر دسجعې او قافيې لحاظ په کې شوی دی. تر ۹۰۰ هـ دمخه دنثر نمونې ډېرې لږې دي . ( حبيبي : ۱۳۶۰، ۳ مخ ).

په دې اساس دنظم په برخه کې ادبي ډولونه زيات دي چې دنظم دا ډولونه او ژانرونه هم په کلاسيک اوهم په لرغونو پېړونو کې ډېرې بيلګې لري . مخکې مو يادونه وکړه چې دليکنې يا ديواني ادبياتو څخه مخکې ولسي ادبيات تاريخي مخکې والی لري ، چې په ولسي ادبياتو کې هم بېلابېل ډولونه او ژانرونه شته چې بيلګې يې خورا زياتې دي . په کابل مجله کې داوسني ازاد پښتو شعر ... ترسرليک لاندې ليکي : (( دپښتو ليکنی شعر لومړي پيلامې هم زياتره ولسي رنګ لري او دلوبو ، بګټيو ، بدلو او ځينو سروکيو غونډې په نيم اوازو کالبو کې راڅرګنديږي : ( زيار : ۱۳۶۷، ۱۲ مخ ).

په پښتو ژبه کې دپښتو شعر پيلامه له ولسي ادب څخه ده . همدارنګه دغه ډول ولسي شعرونه چې نيم ازاد شعرونو ته ورته دي دامير کروړ داتمې هـ ق څخه تراوسه دوام لري.

تر دې ډول شعرونو راوروسته قافيه وال چې ديواني شعرونه بلل کيږي پيل شوي دي . ديواني شعرونه چې دعربي او پارسي په تقليد په پښتو کې دود شوي دي . په بېلابېلو قالبونو کې راڅرګند شوي دي . دپورتنۍ موضوع په ارتباط په (( پښتو شعر څنګه جوړيږي ... ) ) اثر کې پوهاند زيار وايي : له ديواني شعرونو څخه موخه هماغه شعرونه دي چې دعربي او پارسي شعر په پښتو ، بېلابېلو کالبو ( غزلو ، بوللو ، دوييزو،دريېزو ، څلوريېزو ...) کې کښل شوي او کښل کيږي ، هغه هم له يوې نيمې (( مصنوعي )) بيلګې پرته عروضي نه ، بلکې په سيلابوتو نيک تول کې . داهم اړينه نه ده چې هغه دې (( ديواني )) کچې او بڼې ته ورسيږي . ديوان جوړونه دپښتو ادب تاريخ له (( منځني )) پېر سره رانښلوي چې لومړی ويار يې دارزاني په برخه ده . (زيار : ۱۳۶۹، ۷۴ مخ ) .

په پښتو ژبه کې د ديواني اشعارو پيل له ارزاني څخه شوی . په دې پير کې دپښتو ژبې نورو شاعرانو په بېلابېلو کالبو کې په ديواني ډول دشعرونو او نظمونو په ويلو پيل کړی دی . دغه ټول نظمونه دعربي او پارسي ادب په تقليد سره په پښتو ادب کې دود شوي دي او تر

Ketabton.com

ننه پوري دادود دپښتو ژبي په ادب کې روان دی .
دکلاسيک پېرزيات نظمونه او شعرونه دعربي او پارسي ادب په څېر جوليز جوړښت لري ، چې وروسته به په ټولو ډولونو او ژانرونو باندې اوږدې خبرې وکړو .

## ٤- نظم څه ته وايي :

دعميد په فرهنګ کې دنظم لغوي مانا په هکله داسي څرګندونه شوې : (( پسولل ،اوډون- دمرغلرو پييل ، د نثر خلاف له موزون او قافيه والي وينا نه مراد دی .)) ( حسن عميد: ۱۳۵۰، ۱۰ مخ ) .
نظم په لغت کې دمرغلرو پييلو ته وايي او په ادبي اصطلاح کې هر کلام چې وزن او قافيه ولري نظم بلل کيږي .
په پښتوژبه کې نظم پر دوو برخو وېشل شوې چې لومړنی برخه يې فلکلوري يا ولسي نظمونه دي لکه لنډۍ ، نيمکی ، ناري ، چاربيتې ، ببولالې ، او نور...
دويمه يې هغه نظمونه دي چې په پښتو ، دري او عربي درې واړو ژبو کې دګډې قاعدې او جولې له مخې ويل کيږي او هغه بوللې ( قصيدي ) غزل ، مثنوي ، رباعي ، قطعه او نور دي .

## ٥- دشعر لنډ تاريخي سوابق او څرنګوالی :

شعر دهنري ادبياتو يو توکی دی چې ژبنی هنر بلل کيږي . شعر دادبياتو ديو توکي په څېر دټولنيز شعور ديوې برخې په څلونه کې کړنه کوي . له دې امله دغه ژبنی هنر دهنر دنورو ډولونو اوجوليو په څېر دتاريخ په بهيرکې ديوه ټاکلي تاريخي پوړ تر شرايطو لاندې رازيږيدلی او دټولنيز ژوندانه په بهير کې د ډول ډول اوړونونو او بدلونونو تراغيز لاندې راغلی او بيلابيلې جولې يې غوره کړي دي . پښتو شعر په پښتني ټولنه کې دلرغوني تاريخ په لرلو، ددې هېواد او ملت دټولنيزې ځانخبرې پېښې په څېر کړنه کړې او دتاريخ په اوږده بهير کې ځانته ځانګړې جولې نيولي دي .
دهرې ټولنې داداب پيل په شعر او شاعرۍ سره دی . دليک او کتابت له رامنځ ته کيدو مخکې هم ځينو منظمو وزنونو او اهنګونو شتوالی درلود ، چې دهماغې ټولنې دشعر لومړني ګامونه بلل کيږي . په پښتو ژبه کې هم ددې ژبې داداب پيل همداسې دی . په پښتو ژبهٔ کې ان په لرغونو پيړيو کې داسې نظمونه رازيږيدلي دي چې په ملي وزنونو سره برابر ويل شوي دي . دا ډول نظمونه چې ولسي سندرې بلل کيږي ، دپښتو دديواني شعرونو بنسټ جوړوي .

Ketabton.com

همدارنګه دتاریخ په اوږدو کې نه یوازې شعر او شاعرۍ ته دټولنې له خوا دښه والي او بدوالي په سترګه کتل شوي ، بلکې ډول ډول تعبیرونه ترې هم شوي دي ، دشعر دپېژندنې او تعریف په هکله تر ننه د ادب پوهانو ترمنځ دنظر یووالی نه لیدل کیږي . ددې پدیدې دڅرګندولو په برخه کې په بېلابېلو مهالونو کې ډول ډول نظریې وړاندې شوي دي .

دبیلګې په ډول ارسطو لومړنی سړی دی ، چې دشعر په برخه کې د اوږدو څېړنو په لړکې خپلې ټولې څرګندونې په خپل مشهوراثر (( پوطیقا پوټیري )) کې څرګندوي . دشعر په هکله دارسطو څرګندونې تراوسه پلویان لري ، سره له دې چې دشعر تعریفونه د ادبي کره کتونکو له خوا راټول شوي دي خو بیاهم له دې تعریفونو څخه داسې یو تعریف نه ترلاسه کیږي چې هغه ته جامع او مانع تعریف وویل شي .

دادبي بحثونو په اثر کې په دې هکله داسې ویل شوي :
څوک وایي هغه موزون کلام دی چې دانسان په احساساتو او عواطفو کې تحریک پیداکوي . ځیني نور وایي هرکلام چې دغه کار کولای شي ، وزن او قافیه ولري او که نه ، شعر دی . څوک بیاوایي چې نه هرڅه چې په زړه اثر کوي او په انسان کې تعجب یاجوش او جذبه پیداکوي هغه شعر دی .

نو ددوی په نظر جهان ټول شعر دی چې سړی یې داسمان په ستورو او شفق کې، د ډکو او مستو سیندونو په څپو ، دګلانو او چمنونو په رنګ او طراوت کې ، دغرونو دلوړو ابشارونو په مستیو کې ، دبلبلو په شور ، دښکلو په ښایسته سترګو او نازونو کې ګوري . نه یوازې دا ،بلکې د مهجورو او ارزومندو په اوسیلیو ، د دردمندو په اه او فریاد ، دمظلومانو په ژړا کې هم شعري کیفیت موجود دی . ( الفت :۱۳٤۲، ۱۱ مخ ))

همدارنګه شبلي نعماني په دې برخه کې داسې وایي : (( هغه تعریف چې د شعر او شاعرۍ په هکله په ادبي کتابونوکې شوی دی او دپوه او ناپوه دژبې پرسر دی ، هغه دادی چې وایي : موزونه وینا ده چې ویونکي په خپله اراده په وزن راوړې وي . لیکن باید پوه شو چې یاد شوی تعریف په حقیقت کې عامیانه اوسطحي تعریف دی . له دې امله اوس دغه مطلب بالکل حل شوی چې نه شو کولای په یوازی ډول سره وزن او قافیې ته شعر ووایو او حتی دپخوانیو په ویناوو کې هم ددې نظریو تائید باندې لارښوونې او څرګندونې شته دي . )) (شبلي نعماني : ۱۳۳۵، ۱۲ مخ ) .

له دې پورتنیو لنډو څرګندونو څخه جوتیږي چې شعر او شاعري دیوې ادبي تاریخي پېښې په توګه دمهالونو په اوږدو کې په بېلابېلو ډولونو سره پېژندل شوي دي . له

Ketabton.com

همدې امله کوم تعریفونه چې بیلګې به یې وروسته راوړل شي یوله بل سره توپیر لري . مونږ له دغو تعریفونو څخه ځیني غوره تعریفونه اخلو او په وروستی برخه کې هغه تعریف چې ډیر پلویان لري او مني یې لیکو :

٦- دشعر تعریف : دشعر لغوي خوا دڅرګندولو په هکله عبدالباري اشنا لیکي : ( شعر اصلاً عربي کلمه ده چې دشعور څخه ماخوذ او اخېستل شوې ده چې معنی یې پوهه او پوهیدنه ده ځیني ګومان کوي چې دا کلمه له اره عربي ریښه نه لري او عربي به نه وي چې دوی یې دشیر دکلیمې معرب بولي چې په عربي ژبه کې د (( اواز )) او (( نغمې )) مانا لرله او مصدر یې شعور و ، خو ددې نظریې اساس احتمالي او خیالي دی مګر دعربي والي په برخه کې دنظریو زیاتوالی شته . ) ( اشنا: ١٣٣٦، ٣٧ مخ ) .

دشعر دلغوي خوا تر څېړلو وروسته ددې پدیدې اصطلاحي تعریف هم دغور وړ دی . دشعر ځیني تعریفونه چې دادب پوهانو او دب پیژندونکو لخوا شوي دي له لرغونو مهالونو څخه ترننه خورا زیات دي ، چې دټولو تعریفونو راوړل به دلته له موضوع څخه وتلې خبره وي ، مګر ځیني تعریفونه به دبیلګې په ډول په لاندې توګه ولیکو :

دشعر ځیني تعریفونه چې دعبدالباري اشنا د ادبیاتو په اثر کې راوړل شوي دي په دې ډول دي :

شعر هغه موزون او مقتضي کلام دی ، چې په قصد سره وویل شي . شعر هغه موزون کلام دی چې دانسان په احساساتو او عواطفو کې تحریک پیداکوي . شعر یو خیالي قول دی چې دانسان په نفس کې انقباض او انبساط پیداکوي . شعر هغه قول دی چې داوریدونکي په زړه کې بې دهغه له اجازې ځاي نیسي . هرکلام چې دانسان احساسات په شور راولي او وزن و قافیه ولري شعر دی ، که نه، شعر نه دی . شعر دیو متاثر سړي دانفطلا تو نتیجه ده ، شعر دمتفکر انسان دعواطفو او احساساتو استاځی دی . شعر هغه خوندور کلام دی چې دانسان دعواطفو ، احساساتو او تخیل نماینده ګي کوي اود اوریدونکو پر احساساتو تاثیر اچوي ، نو که دا کلام وزن وقافیه یا نورې لفظي ښېګنې ولري خو ښه ترښه او که هغه نه وي هم شعر دی او ددې ښېګنو په نشتوالي یې شعریت ته خلل نه پېښیږي . ( اشنا : ١٣٣٦، ٣٨ مخ )

له دې ټولو سره سره دشعر په باره کې پورتني تعریفونه اوس دادب پوهانو ترمنځ دمنلو وړ نه دي (مناسب تعریفونه نه بلل کیږي ) . دشعر دتعریف په برخه کې دپښتو شعر څنګه جوړیږي اثر کې لیکي : (( نن سبا شعر په کره کېښکلي او اهنګیه ژبه د فکر وخیال عاطفي ترون دی یا ددغه پیژند (تعریف ) .

Ketabton.com

نوښتګر اسماعیل خویي په خپله ژبه (( شعر گره خورده گی عاطفی اندیشه وخیال است در زبان فشرده واهنگین )) بلل شوی دی او په دې ډول څلورګوني رغښتي او بنسټیز رغنده توکي (متشکله اجزا ) لري : فکر،خیال ، ژبه ، اهنګ (وزن ) په دې توګه پښتوشعر په دغې رښتیني مانا نه یوازې تېر مهال بلکې تراوسه هم لاسم هـ و زیږیدلی نه دی ، خو بیاهم له نورو ژبنیو ټولنو سره په پرتلیزه توګه ښایي له تیر مهاله تراوس مهاله پورې درښتیني پښتو شعر استاځي دلاس دګوتو له شمېره تیری ونه کړي ... )) ( زیار : ۱۳۶۹، مقدمه ب مخ )

په پورتني تعریف کې شعر په کره کېښکلي او اهنګینه ژبه ، دخیال اوفکر عاطفي تړون بلل شوی دی، چې څلوګوني توکونه ژبه ، اهنګ ، یا تول (وزن) انګېر(خیال) او اند(اندیشه ) دشعر دماڼی بنسټ جوړوي .

په پورته ډول دشعر په برخه کې دادبي کره کتونکو نظریې وړاندې شوې ،ښایي شعر تر یوې اندازې پورې پیژندل شوی وي .

دنظم د ډولونواو ځرنګوالي په برخه کې هم زیاتو ادبي کره کتونکو په بېلابېلو وختونو او مهالونو کې ځرګندونې کړي دي ، چې دټولو راوړل به یې بې ګټې وي ، خو یوازې دځینو پوهانو په نظریو بسنه کوو ، له دې نظریو څخه داسې ځرګندیږي ، چې شعر او نظم سره توپیر لري . شعر دشعریت ارزښت لري ، لکه چې مخکې ذکر شو او دنظم ځانګړتیاوې بېلې دي . شبلي نعماني هغه وینا ته چې مقفي او وزن لرونکې وي نظم وایي . مګر خوشحال خان خټک بیا همدې ډول نظم ته هم شعر وایي . نوموړی په یو شعر کې خپل نظر په دې مورد کې داسې ځرګندوي :

لکه غشي لره بویه تیر انداز هسې شعرلره بویه شعر ساز
همیشه دزړه په لاس تله دوزن زیات وکم له وزنه یوتوری غماز
په تورآس دحقیقت ناوې سپره کا په سپین مخ پلو نیولی دمجاز
سل جلوې سل کرشمې سل مکېزونه په نظرکې یې ښکاره دسترګوناز
دصنعت زیورپه سل رنګه ورپورې دتشبیه چندڼ چووه باندې طراز

خوشحال خان خټک په پورتني بیت کې له وزنه یو توری زیات غماز بولي او دشعر په سترګه ورته نه ګوري . په دې برخه کې (دپښتوشعر څنګه جوړیږي) اثر کې داسې

Ketabton.com

څرګندونې شوي او دنظم او شعر داسې توپير کوي : ( ننې ادب پوهان او کره کتونکي دنظم او شعر ترمنځ يوتاکلی بريد ليکه کاږي او نور پردې بسنه راوړي چې ( موزونه او مقفي وينا ده ) ځکه هغه څه چې تر دغه سرليک راځي تش (نظم ) دی او بس .
(زيار : ۱۳۶۹، ب مقدمه مخ ) .

په لرغوني کلاسيک پير کې زياتره شعرونه ان ټول شعرونه د وزن او قافيې لرونکي دي . له دې امله موږ په کلاسيک پېر کې دنظم د ډولونو او ژانرو په برخه کې دنظم کليمه کارولې چې دهغه وخت ټول شعرونه را اخلي .
زموږ اوسنی ليکنه او څېړنه چې دکلاسيک ادبي نظم دژانرونو دشوولو تر سرليک لاندې شوې ، څرګنديږي ، چې ددې پېر او مهال دشاعرانو شعرونه پرسيلاب ، تون ، ځپه او خج ولاړ دي او دبديعي او معنوي صنايعو کارول په کې زيات ليدل کيږي .
په دې پېر کې دپښتو ژبې نظمونه دتشبيه ، مجاز، استعارې ، کنايې، مقابله ، حسن تعليل ، مماثله ، مراعات النظير، عکس ، توريه ،تدبيع ، ټکي لرونکي ، بې ټکي ، رجوع ، جمع او تفريق ... او نورو په ګاڼه پسولل شوي دي .
ددې پېر نظمونه دجولې او منځپانګې له پلوه دوه ډوله نظمونه دي .
الف : دمنځپانګې له پلوه : پراخلاقي ، وصفي ، قصصي او نورو نظمونو ويشل شوي دي.
ب : دجولې له پلوه :
پرقصيده ، غزل ، مثنوي ، قطعه ، ترکيب بند ، ترجيع بند... ويشل کيږي .
ددې پېر دشاعرانو په ادبي نوښتونو او زيږونو کې پرجوليزو ډولونو سربېره دلويو لويو ادبي ، عشقي ، اخلاقي ، وصفي ، پند ، حکمت ، ويرنې ، هجوې او نور و سکالوو ډولونه په لوړه شاعرانه ژبه راوړل شوي او څرګند شوي دي .
په پښتو ژبه کې دوه ډوله نظمونه شته دي چې لومړی ډول يې ولسي (فولکلوري ) نظمونه دي ، چې دپښتو په وګړنې تول او وزن ويل شوي دي . لکه : لنډۍ ، نارې ، بګتۍ ،لوبې ، چاربيتې ، نيمکۍ او نور ...
دويم : دپښتو ژبې هغه ادبي نظمونه دي چې دپښتو عربي او فارسي ترمنځ دګډې پولې او بريد په لرلو کې ويل شوي دي . په دې ډول نظمونو کې چې دعربي اوپارسي پرقاعدې ويل شوي ، عربي وزن او تول ته نږدې ويل شوي دي ، چې ديواني اشعار هم بلل کيږي .

او هغه : غزل ، رباعي ، قطعه ، مثلث ، مربع ، مخمس ، مسدس، مثمن ، معشر ، مستزاد ، ترجیع بند ، ترکیب بند او نور ... دي.

دنظم ډولونه په تیر او اوس مهال کې شتوالی درلود چې وروسته به یې پر ډولونو او ژانرونو باندې څرګندونې وکړو .

۷- دکلاسیک ، مانا ، مفهوم او پیژندنه : دکلاسیک کلمه دنړۍ په ټولو پرمختللو ژبو او ادبیاتو کې په کار وړل کیږي . ددې کلیمې دلغوي خوا دڅېړنې په برخه کې ویلی شو چې دزیاتو ماناګانو درلودونکی دی ، خو په هغه ډول چې کلاسیک د مانا و له مخې پراخ میدان لري نو د ادبي اصطلاح په برخه کې یې هم پراخوالی په نظر کې نیول کیږي .

کلاسیک په اصطلاحي مانا سره ټولې هغه غوره ادبي زیږونې او بېلګې را اخلي چې دیوه هېواد ملي ویاړ او پانګه بلل کیږي .

دکلاسیک دلغوي خوا څرګندونې په برخه کې ادبي کره کتونکي ډیرې نظریې وړاندې کړي چې دځینو نظریې به په لاندې ډول ولیکو :

حبیب الله جاج لیکي : (( اصلاً دکلاسیک classical لغت په ډیرو معناوو استعمال شوی دی ، دالفت دلاتین له کلاسس classis دغځلند ، ګړندي ، چست وچالاک ، بهول او بهیدل land څخه مشتق شوی دی ، خو په لومړي سر کې دپیاده قوې army – په معنی کاریدله . په ډیرو لرغونو وختونو کې یې د رومي لښکر و دډیر لوړ ګروپ دمخکښ او لومړۍ درجه رتبې معنی لرله . دا مخکښ صف هغه بډایان وو چې وسلې ، توري ، ډالونه ، زغري او نور جنګي لګښتونه یې په خپلو پیسو برابرول . داګروپ دلښکر هستوي ډله وه .

وروسته بیا له classis څخه د classic لغت مشتق شو او دلارښود تبعه leading –citizens مانا یې لرله . څه موده وروسته دروم امپراطورۍ په طلایي عصر کې دا کلیمه په نورو کسبونو هم اطلاق شوه .

Classicus-scriptor یې لومړي درجه لیکوال ته وویل چې دانګلیسي ژبې first-class writer معادله ده ، کله چې درنسانس هیومنستانو لرغوني یوناني او رومي ادبیات راژوندي کړل او دهغوی هنر یې بیا باب کړ او تر پخوا یې زیات اهمیت ورکړ ، نو لومړي درجه لیکوال یا کلاسیک لیکوال هماغه دپخواني یونان او روم دیوې ځانګړې دورې لیکوال و .

بیا نو چې دلیکوالو دلیکنو معیارونه او سبکونه پراخ او مختلف شول دکلاسیکو لیکوالو ، کلاسیکو ادبیاتو او

Ketabton.com

کلاسیک هنر کلیمي هم دلومړي درجه لیکوالو ، لومړي درجه ادبیاتو او لومړي درجه هنر په مانا استعمال شوې او دا هغه ادبیات او هغه هنر دی چې دخپل لوړ ماهیت له امله په هر کلتور کې خپل نسبي ارزښت تل ترتله ساتي .
په پای کې وایي : کلاسیک ادبیات هغه ادبیات دي چې نه زړیږي او په هر وخت کې معاصر وي ، هر وخت او هرځای ، دهرچالپاره ارزښت لري او پرورځیني عملي ژوند او انساني فکر باندې مستقیمه اغېزه کوي .
همدارنګه دادبي څېړنې په اثر کې په دې برخه ک لیکي : (( کلاسیک په مفرد شکل معمولاً هغو ادبي اثارو ته ویل کیږي چې په ټولو تاریخي دورو کې دخپلو عالي اوصافو او ممتازو وجوهاتو له امله دهرچا له خوا ستایل شوي وي یا په ساده ژبه کله چې کلاسیک لیکوال او کلاسیک هنر وویل شي ، له هغه څخه داسې لیکونکی او هنر مقصود وي چې ټول طبقات یې په هر وخت او ځای کې ستاینه او لمانځنه کوي ، نو په دې صورت کې دکلاسیک کلیمه دټولو مختلفو تاریخي دورو پر ټولو سترو لیکوالو او هنرمندانو باندې اطلاق کیدای شي ...
دپښتو پاخه او مشهور شاعران لکه خوشحال خان خټک ، حمیداورحمن بابا دهمدې مانا پر اساس کلاسیک لیکونکي دي .
همدارنګه دکلاسیک لفظ په هغو صنفي درسونو هم اطلاقیږي چې په ښوونځیو کې لوستل کیږي . دښوونځیو رسمي تحصیلات چې پرقواعدو او اصولو متکي وي ، د ښوونځي کتابونه ټول دکلاسیک په نوم یادیږي .)) (روهي :١٣٦٢، ٣١٨ مخ) .
دکلاسیک دکلیمې دپیژندنې په برخه کې دې پایلې ته رسیږو چې دپخوانیو لیکوالو او شاعرانو هغه اثار چې دخپل عالي ماهیت او کیفیت له مخې تل( همیشنی) ارزښت لري ، نه زړیږي او په هر وخت کې دهر چالپاره دمنلو وړ وي ، کلاسیک بلل کیږي ، چې پردې اساس دپښتو ژبې او ادب دودې او بشپړتیا په پړاوونو کې موږ دخوشحال خان خټک ادبي نوښتونه او په همدې پېر او تردې وروسته پېر کې درحمان بابا او عبدالحمید مومند زیږونې له همدې ډول اثارو څخه ګڼلای شو .
٨- دپښتو ادبیاتو دریځ په کلاسیک پېر کې : دختیځ ادبیات په عمومي اودپښتو ژبې ادبیات په ځانګړي ډول د ادبي تاریخ دپوړونو په ویشنه کې دلویدیځ ادبیاتو په څېر نه دي ، ځکه د لویدیځ ادبیاتو دځانګړو اقتصادي ، سیاسي او ټولنیزو شرایطو اودختیځ ادبیاتو دځانګړو شرایطو تر اغېزې لاندې ووه او پرمختیا موندلې ده .
په ختیځ کې په ځانګړې توګه پښتو ژبه او ادب ځانته دودې او بشپړتیا پړاوونه او پوړونه لري . په

پښتوادب کې نظم دپوهاند صدیق الله رښتین په وینا دپښتو دنثر په څېر په څلورو دورو ویشل کیږي ، چې په لاندې ډول دي .

لومړنۍ دوره له دویمې هجري پیړۍ څخه پیلیږي او بیا تر ۹۰۰ هـ - ق پورې چې امیر کروړ ، شیخ اسعدسوري ، ښکارونډی او دنورو شاعرانو ادبي زیږونې په کې راځي ، رسیږي . په دې بهیر کې شعري زیږونې په ګړني وزن سره ویلی شوي دي .

دویمه دوره له ۹۰۰ هـ-ق څخه تر ۱۱۰۰ هـ-ق پورې رسیږي . په دې دوره کې دروښاني غورځنګ شاعران لکه ملا ارزاني ، علي محمدمخلص دولت لواني کریمداد او نور راځي . ددې دورې دشاعرانو شعرونه زیاتره مذهبي رنګ لري او هم دجولې او منځپانګې له مخې دنورو ژبو د اشعارو تراغېزې لاندې لیکل شوي دي .

سره له دې هم دپښتو ادبیاتو لویه پانګه بلل کیږي . ددې دورې شعرونه عربي او پارسي وزن ته نږدې شوي دي .

دریمه دوره له ۱۱۰۰هـ-ق څخه تر ۱۳۰۰ هـ - ق پورې رسیږي . په دې دوره کې دپښتو ژبې او ادب ډیر لوړ شاعران لکه خوشحال خان خټک ، رحمان بابا ، عبدالحمید مومند ، کاظم خان شیدا ، افضل خان خټک ، عبدالقادر خان ، ګوهر خان ، سکندر خان ، میرمن حلیمه او نورو شاعرانو په خپلو ادبي زیږونو کې پښتو ژبې او ادب ته ارزښتمنه بڼه او رنګ ورکړی او ددوی اثارو دپښتو ادب په وده او پرمختیا کې په زړه پورې اغېزې ښندلي دي .

څلورمه دوره چې له ۱۳۰۰ هـ -ق څخه بیا ترننه پورې موده په کې راځي د پښتو ژبې او ادب په څرنګوالي کې ډیر اثار او ادبي زیږونې دتکړه او پیاوړو شاعرانو او لیکوالو له خوا رامنځ ته شوي دي . په دې اثارو کې زموږ مطلب له کلاسیک پېر او ددې پېر دادبي زیږونو او ژانرونو له څرګندولو څخه هماغه دخوشحال خان خټک پېر اومهال دی چې دغه دوره له ۱۱۰۰ هـ-ق پیلیږي او په ۱۳۰۰ هـ-ق کې پای ته رسیږي ، په دې پېر کې داسې ادبي زیږونې شته چې دټولوخلکو له پاره په هروخت اوهره زمانه کې دمنلو وړ دي . په دې مهال کې څرګندیږي چې دشاعرانو او لیکوالو له خوا په کومو جولو شعرونه ویل شوي اوکومې جولې یې پیژندلي دي .

په دې اثر کې نه یوازې ددې پېر د ادبي نوشتونو جولیز جوړښت څرګند شوي ، بلکې دمنځپانګې له اړخه دسکالو پر څرنګوالي هم خبرې شوي دي ، داچې خوشحال خان خټک دادب اوسیاست دمیدان اتل دی ، نو دده ادبي زیږونې هم لوړ او دپښتو ادب په ادبي ډولونو کې ځانګړی مقام او ځاي لري .

Ketabton.com

په لنډه توګه وايم چې په دې بهير کې پښتو نظم دجولې او منځپانګې له پلوه زياته وده او پرمختياکړې ده . ددې مهال په ادبي زيږونو کې ډول ډول ادبي ژانرونه رازيږيدلي چې بېلابېلې سکالو وې په کې راغلي او څرګندې شوې دي .

ددې پېر ادبي زيږنديانو په لوړه شاعرانه ژبه او تخيل ادبي صنايع په خوږه او روانه ژبه په خپلو اثارو کې راوړي دي . له دې امله په دې پېر او مهال کې خوشحال خان خټک ، رحمان بابا او عبدالحميد مومند دخپلو ادبي زيږونو دڅرنګوالي او لوړتيا له کبله د ادب پوهانو او ادبي کره کتونکو له خوا په کلاسيک شاعرانو نومول شوي دي ، ځکه خودې پير ته کلاسيک او ددې دورې شاعرانو ته کلاسيک شاعران او ددې پير ادبي نوښتونو ته کلاسيک ادبي زيږونې وايو . زموږ موخه (هدف ) همدادی چې ايا په دې پېر کې کوم ادبي ژانرونه شته والی لري او دغه اثار دکومو سکالوو لرونکی دي . پورتني ياد شوي مطالب ددې اثر په پاڼو کې په جلا جلا توګه دټولو ځانګړتياوو له پلوه څرګند شوي دي.

Ketabton.com

# دویم څپرکی

## ب : دپښتو ژبې دنظم کلاسیک ژانرونه :

۱- بولله (قصیده ) : بولله دبول له مصدر څخه دی او دویلو په معنی راځي .(رښتین :۱۳۴۷، ۲۹مخ )

پوهاندحبیبي (۱۶) مخ دالمنجد دفرهنګ په اخځ دقصیدې دلغوي خوا دڅېړلو په برخه کې د ((قصیده څنګه او چېرې پېداشوه )) اثر کې لیکي : :

(( قصیده دقصدله مصدره څخه جوړه شوې چې مانا یې اتصال ، استقامت ، سموالی ، برابرتیا او سوچه توب دی . ))

قصیده دپښتو نظم لرغونی حماسي ژانر دی چې په کلاسیک یا منځني پېر کې دجولې او مضمون له پلوه نوره هم شتمنه شوې ده .

دقصیدې دلرغونتوب په برخه کې دقصیده څنګه او چېرته پیداشوې اثر کې لیکي : ... شیخ اسعد بن محمد سوري په بخدي کې چې دزمینداور له علاقو څخه دی او په ۴۲۵ هـ - ق کې وفات شوی دی . دامیر محمدسوري په ویرنه کې یوه اوږده بولله یعنی قصیده وویله ... چې دغه قصیده دپټې خزانې په واسطه موږ ته رارسیدلې ده .

پټه خزانه کې محمدهوتک دشیخ کټه د (( لرغونی پښتانه )) له تاریخ څخه رانقل کړې ده . )) . ( حبیبي :۱۳۵۷، ۱۱مخ ) .

له دې بیلګو څخه څرګندیږي ، چې قصیده په لرغوني پېر کې دیو ادبي ډول په څېر شتوالی درلود ، کله چې ځیني کسان ددې ژانر نوښتګر خوشحال خان خټک بولي ، دا هم بې ځایه خبره نه ده ، ځکه خوشحال خان خټک په پښتو ژبه او ادب کې ترټولو شاعرانو او قصیده ویونکو زیاتې بوللې ویلې دي او دا ژانر یې په منځني پېر کې دجولې او منځپانګې له پلوه ډیر لوړ( پورته) رسولی دی .

په دې برخه کې دادب تیوري اساسونو کې لیکي : قصیده چې په زړه یونان کې ورته ( poie ma ) ویل کیده یو منظوم ایجاد دی چې دخپلې پراختیا په تاریخ کې بېلابېلو ژانرونو ته راکښل شوې ده . یعني قصیده هم حماسي او هم بدلې خصوصیات لري . (دوست شینواری : ۱۳۶۵، ۹۲ مخ ) .

په قصیده کې دموضوع تسلسل او د دورونوپه پای کې دهم قافیه او هم ردیفو کلیمو راوړل اړین لیدل کیږي . قصیده دغزل په څیر ده چې ټول بیتونه یې په وزن او قافیه کې سره یو او لومړی مسره یې دمطلع په څیر وي . دقصیدې دبیتونو شمیر تر دوو سوو بیتونو پورې رسیږي ،

Ketabton.com

دقصیدې دبیتونو دشمیر زیاتوالی او کموالی دشاعر په استعداد او دمنځپانګې په څرنګوالي پورې اړه لري .

په ختیځ ادبیاتو کې قصیده په تشبیب سره پیلېده. او تشبیب دقصیدې هغه برخه ده چې شاعر په کې دطبیعت ښکلا او یا نور عشقي او ذوقي سکالووې (موضوعګانې) په کې راوړي . دقصیدې دپیل یا تشبیب برخه دجولې له مخې هماغه دقصیدې دلومړي بیت په ډول ویل کیږي ، خو دسکالو (موضوع) او منځپانګې له پلوه دلوړ فکر ، خیال او احساس درلودونکی وي چې عموماً عشقي خوا لري .

دتشبیب د وروستني بیت په پای ته رسیدو سره دګریز برخه پیلیږي . دقصیدې دګریز په برخه کې دشاعر یا ناظم مهارت او استعداد دادی چې څنګه وکولای شي په طبعي توګه لومړي بیت سره یې ونښلوي . په دې برخه کې شاعر کوښښ کوي په استادانه مهارت سره اصلي سکالو (موضوع) ته ځآن ورسوي او دخپلې موخې (هدف) څرګندونه وکړي .

دقصیدې دې برخې ته چې دقصیدې دویمه برخه ده ، حسن تخلص هم وایي . دحسن تخلص برخه دجولې له مخې دقصیدې دلومړي بیت ادامه ده . له دې برخې څخه وروسته دحسن طلب برخه پیلیږي . دحسن طلب په برخه کې شاعر یا ناظم دخپل ستایونکی (ممدوح) لپاره دعا کوي . حسن طلب یادعائیه دقصیدې وروستنۍ برخه ده . دپښتو زیاتره قصیدې په لرغوني او هم په کلاسیک پېر کې دهمدې جولې (تکنیک) له مخې ویل شوي دي .

د پښتو ژبې په کلاسیک ادب کې قصیدې دلرغونو پېرونو او مهالونو له قصیدو سره دجولې او تکنیک له مخې یو ډول قصیدې دي . دپښتو ژبې لومړنۍ قصیده چې دپټې خزانې په واسطه ښودل شوې ده ، په لرغوني پیر کې دشیخ اسعد سوري له خوا ویل شوې ده . شیخ اسعد سوري په کال ۴۲۵ هـ -ق کې مړ شوی دی . نوموړي دامیر محمد سوري په مړینه په یوه بولله کې داسې ساندې وویلې ، چې یوه برخه یې دبېلګې په ډول لیکو :

دفلک له چارو څه وکړم کوکار زمولوي هرګل چې خاندې په بهار
هر غاټول چې په بیدیا غوړیده وکا زیږوي یې پاڼې کاندي تار په تار
ډیر مخونه دفلک څپیړه شنه کا ډیر سرونه کا تر خاورو لاندې زار
دواکمن له سره خول پریباسي مړسي دبې وزلو وینې توې کاندي خونخوار
چې له برمه یې زمري رپي ځنګلو کې له اوکو به یې ډاري تیرو جبار

Ketabton.com

هم يې غشي سکڼي ډال دژوبلورو          رستمان ځيني ځغلا کاندي په ډار
چې يې ملاوې نه کږيږي په غښتلو        دا فلک پر و کاڅه کاري ګذار
په يوه ګردښت يې پر يباسي له برمه     نه يې غشی نه ليندی وي نه سپار
څه تيری څه ظلم کاندې ای فلکه        ستاله لاسه نه دی هيڅ ګل بې له خار
په ويرژلو لورنه کړې په زړه کړاړيه    پرنتليو اوروې دغم ناتار
هيڅ روغي مې په زړه نشته ستا له زوره   بيلوې په ژړا ، ژړ مين له ياره
له تيريو دې اوښي څاڅي له وريځو      چېنې ژاړي په ورتې ورتې ستاله شنار
(پټه خزانه : ۱۳۵٤، ۱۸-۱۹ مخ )

دپښتو په لرغوني ادب کې ياده شوې بولله يو لوړ ادبي کار دی چې دلوړ خيال لرونکی او دمحاورې له پلوه روان او خوږ ويل شوی دی ، په دې بولله کې ډيرې ادبي ښيګنې خوندي دي . دپټې خزانې څخه شيخ اسعد سوري دبوللې دپورتنی بېلګې په وړاندې کولو سره داپټه لګيږي چې په لرغوني پېر کې بوللې پيژندل شوی ادبي نظم وو، چې دجولې او منځپانګې له پلوه دپارسي او عربي بوللو او قصيدو ته نږدې ويل شوي دي .

له لرغونو بوللو څخه بله دښکارندوی مشهوره بولله ده چې دسلطان شهاب الدين په ستاينه کې يې ويلې . دا د ادبي قووت له پلوه دشيخ اسعد سوري بوللې ته ورته ده ، چې داسې پيليږي :

دپسرلي ښکلونکي بياکړل سينګارونه      بيايې ولونل په غرونو کې لالونه
دغاټولو جنډې خاندي وريدي ته           زرغونو بنو کې ناڅي ځلمي جونه
( رښتين : ۱۳٤۷ ، ۳۲ مخ ) .

قصيدې دختيځ په ادبياتو کې په عمومي ډول او دپښتو په ژبه او ادب کې په ځانګړي توګه د ډول ډول منځپانګو اوسکالو و دلرلو له امله د ډولونو او رنګونو په سمسوربڼ بدل شوي دي ، چې ددې ګلونو په شتوالي سره دپښتو ادب دبڼ په ښکلا کې وړ بدلون ليدل کيږي .

دکلاسيک پېر دقصيدو سکالووې (موضوعګانې ) حماسي ، عشقي ، ستاينې ، ويرينې او نور اخلاقي او ټولنيز مطالب دي ، چې پورتنی يادې شوې موضوعګانې دقصيدې په جولې کې څرګند شوي دي . په قصيدو کې نه يوازې ديوه تن په ژوند او حالت باندې خبرې کيږي ، بلکې د اولس

، ټولني او خلکو دژوندانه په څرنګوالي باندې هم خبرې روانې وي .

په کلاسیک پېړ کې قصیده د ۹۵۰ هـ ق کلونو په شاوخوا کې دپښتون ولس په شکلې سیمه کې دادب دنوو غوټیو په سرټوکیدو سره بیا له سره رنګ او بوي اخلي او دا هغه مهال دی ، چې روښان اودروښان کورنۍ اودروښان شاګردانو په پښتو ادب کې دنوي ژوند سا وچلوله . په دې بهیر کې چې دلیکنیو ادبیاتو یا دیواني ادبیاتو دپیل مهال دی ،

پښتو ادبي نظم او نثر له پلوه یوه اندازه وده وکړه . دپښتو ادب نظم چې تردې مهاله په ګړنیو وزنونو ویل کیده ، عربي او پارسي نظم ته نږدې کړای شو . ددیواني یا لیکنیو ادبیاتو پیل له همدې پېړ څخه دی او ددې ادبیاتو دنوښت ویاړ دارزاني په برخه شوی دی ، لکه چې پوهاند زیار وايي : ( دیوان جوړونه )) دپښتو تاریخ له (( منځني )) پېړ سره رانښلوي چې لومړی ویاړ یې دارزاني په برخه دی .)) ( زیار : ۱۳۶۹، ۷ مخ ).

ددې مهال دشاعرانو لکه میرزا خان انصاري ، دولت لواني ، واصل ، کریمداد ، قادر داد او دنورو هلې ځلې دستاینې وړ دي .

په دې پېړ کې نه یوازې نور نظمونه بلکې ځینې قصیدې هم ویل شوي دي .

پورتنیو لیکوالو او شاعرانو قصیده پیژندله او ځینو یې قصیدې ویلي دي . دروښاني مهال دقصیدو د څرنګوالي په برخه کې ((قصیده څنګه او چیرې پیداشوه )) اثر کې وايي : دروښاني دورې قصیدې دتخنیکي نیمګړتیاوو له امله قصیده وزمه نظمونه دي . )) ( حبیبي : ۱۳۵۷ ، ۱۹ مخ ) .

له دې څخه څرګندیږي چې دروښان په مهال کې ځینې قصیدې ویلې شوي چې دې قصیدو دجولې له مخې نیمګړتیاوې لرلې . له روښانیانوڅخه وروسته په پښتو ژبه او ادب کې قصیدې دجولې او منځپانګې له پلوه د ودې په لور ګامونه اوچت کړل او دا هغه مهال دی چې دپښتو ژبې او ادب پلار نامتو لیکوال او شاعر خوشحال خان خټک په پښتوژبه کې په قصیدو ویلو پیل وکړ . په دې پېړ کې نه یوازې خوشحال خان ، بلکې ددې کورنۍ نورو نامتو شاعرانو لکه عبدالقادرخان خټک ، اشرف خان (هجري) او نورو قلمونه واخیستل او دپښتو ادب دنظم او نثر په برخه کې نه هیریدونکي خدمتونه وکړل او په خپلو نوښتونو یې نوې ادبي زیږونې وکړې . په دې برخه کې (( قصیده څنګه او چیرې پیداشوه )) اثر کې لیکي (( اوس نوبیادقصیدې سمسور موسم راغی او دپښتو پلار خوشحال خان

Ketabton.com

خټک په خپل ادبي زيار او مښود ، قصيده هم ترلاس ونيوله . ))

په لنده توګه ويلی شو چې قصيده په پښتو ادب کې له منځنيو پيړيو څخه دروښانيانو او دخوشحال خان خټک او ددې دکورنۍ غړو شاعرانو اوهم په دې پېړ اومهال کې نورو پښتو ژبو شاعرانو ديوه غوره ادبي ژانر په توګه پيژندله . دخوشحال خان خټک د مهال قصيدې دجولې او منځپانګې له پلوه په بشپړو قصيدو بدلې شوې او دډول ډول سکالوو په لرلو سره يې ټولنيزه موخه يا دندې ترسره کړي دي ، دخوشال خان خټک دکلياتو يوه برخه له قصيدو څخه ډکه ده . بېلابېلې قصيدې چې دبېلابېلو منځپانګو او سکالوو لرونکې وې ، ويل شوي دي . خوشال خان خټک دننګ ، مېړانې ، پښتونولی ، غيرت او ناموس په برخه کې اوږدې قصيدې ويلي دي . هره قصيده يې پند او حکمت او دټولنې لپاره دلارښوونې مثال او د اخلاقو قاموس بلل کيږي . خوشال خان خټک په خپلو قصيدو کې ويرنې هم راوړي دي ، لکه چې دخپل زوی نظام په مړينه کې وايي :

څه داغونه ږدي په زړه باندې فلکه
چې نظام دې له مابېل کړ خوايې ډکه
خدايه ته خو ستمګر نه يې دا څه کړې
خلقه دې په دا کار کړه هکه پکه
په لحد کې هغه مخ خوري په چنجيو
چې دهيچا پرې پيرزونه وه ځوانکه
کاشکې ځوان دپښتانه په ننګ کې مړوای
نه چې ګور لره روان شو له تلتکه
چې دقام په ننګ کې ومړ هغه زويه
په عالم کې دخپل پلار غاړه کالکه
رنګ داوښکو سره ويوست زماسترګو
نور به نه راشي زما له مرد مکه
لاس ودست دې سره درست درهم برهم کړي
دريغه دريغه لاس درنه رسي فلکه
هغه وخت به بيرته نه راشي نظامه
چې به نه وې دخپل بابا له وکه
که حياوه ، که صفاوه ، که وفاوه
ښايسته ستاپه وجود وو هره يکه
اسمعيل غوندې به دی راته تسليم و
که په خلق مې دنظام کښينوګز لکه
که دپلار په رضازوی درومي جنت ته
سکه نظام ورلره ورغی بې شکه
خدای دې نورګلونه جوړ لره په باغ کې
که يوګل ورځنې پريووت له خونکه

Ketabton.com

زه به ولې هسې ژاړم یا به نه خورم
که په نه ژړا مې مل شي زړه برجکه
خوژوندی په دنیاپایم خدای دې نه کا
ستا څېره زما دزړه له تختې لکه
دنظام دغشي یوبرابر نه دی
که خوشال په زړه خوړلی ډېرناوکه
مگر زړه یې دهاتي وي چې زغمي یې
داشتی چې دخوشال په زړه شولکه
( کلیات خوشحال خان ختک : ۱۹۶۰ ، ۵۳۵-۵۳۹ مخونه ) .
دخوشال خان ختک پورتنی قصیده چې دخپل زوی نظام په مړینه کې یې ویلی ده له نورو لرغونو قصیدو او ویرنو سره دمنځپانگې له اړخه توپیر لري . دخوشال خان ختک دتشبیب برخه دپښتني ولس لپاره داسې غوره لارښوونې دي چې ننگ او مېړانې ته یې رابولي . په قصیده کې له خدای څخه غوښتنه کوي چې زوی یې دقام په ننگ کې مړ وای او داخبره دقصیدو په تاریخ کې دمنځپانگې له پلوه د سکالوو څرنگوالی او نوښت په گوته کوي .
دقصیدې پورتنی بېلگه دکلاسیک پېر له قصیدو څخه راوړل شوې ، ددې قصیدې څخه څرگندیږي چې په دې پېر کې قصیدې دجولې او منځپانگې له پلوه څومره وده او پرمختیا کړې ده .
۲- غزل : دلیریک Lyric یا غنایي یا بدلي شعرونو د ډول پخوانی او لرغونی ژانر دی . په پښتو ژبه او ادب کې لرغونی او زړې ریښې لري . دغزل سکالو (موضوع) لکه چې له نامه څخه یې څرگنده ده په لومړنیو وختونو کې یوازې عشق او محبت وو ، خو دوخت په تیریدو، دغزل موضوعگانې هم نوې شوي او ډول ډول موضوعگانې یې په جولو کې ځای شوي دي . هر څومره چې غزل دجولې او مځپانگې له پلوه وده کړې ، په هماغه اندازه یې بشپړ والی راڅرگند شوی دی .
دغزل وده او پرمختیا ددې ژانر د جولې او منځپانگې پر پوخوالي او ډولونو باندې د بدلون سبب شوی دی .
لکه چې تصوفي . پند ، نصیحت ، حکمت ، پوهه ، اخلاق او نورې ټولنیزې غوښتنې چې ددې هنري او ادبي ژانر په جولو کې جوړښت موندلی دی . په غزل کې دخوږو او زړه وړونکو الفاظو راوړل دغزل په شکلا کې زیاته اغیزه لري .
دپښتو ادب دنظم دغه ژانر یو ترنمي او وزمین ژانر دی ، چې په ساز او غاړې ویلو سره په ځانگړو اهنگونو باندې ویل کیږي . غزل دپښتنو سیمو په دېرو او حجرو ، کلیواو باندو ، ښاړو او میرو ، په خوښی او ښادی کې د ملگرتیا لرغونی تاریخ لري . دغزل په واسطه

میلې او مجلسونه تاوده ساتل شوي او ددې ژانر له خواږه ترنم څخه خوندونه اخېستل شوي دي .

غزل نه یوازې دوخت دښهٔ تیریدو دیوې وسیلې په توګه بلکې دپښتو نظم دنورو ژانرونو په څېر دخلکو دلویو پرګنو په لارښوونه کې هم پوره ونډه اخېستې ده او دخلکو لپاره دپام وړ مضمونونه لکه پند ، حکمت ، اخلاق ، پوهه او نورو سکالوو په وړاندې کولو سره یې خپله ټولنیزه دنده سرته رسولې او رسوي یې . دغه ژانر په پارسي ادب کې هم ډیر لرغونی تاریخ لري ، چې په دې ژبه او ادب کې یې شتوالی دریمې هجري پیړۍ ته رسیږي .

ډاکټر ذبیح الله صفا وایي : (( غزل او ددې مهال غنایي شعرونه دهغه څه ادامه ده چې ددریمې هجري پیړۍ په وروستیو او دڅلورمې هجري پیړۍ په لومړیو کې یې وینو .

ددې پیړۍ په پیل کې دوه نومیالي غزل بول شاعران وو چې وروستنیو شاعرانو په دې ډول شعر کې په استادۍ ستایلي دي او له هغو دوو څخه یو رودکی او بل شهید دی ... )) ( ذبیح الله صفا :۱۳٤۲، ۳۳٦ مخ ) .

د ډاکټر ذبیح الله صفا دلیکنې له مخې په پارسي ادب کې دغزل لرغونتوب ،دریمې هجري پیړۍ ته رسي . څرنګه چې مخکې هم څرګنده شوه چې قصیده د پښتو ، فارسي او عربي ادب ترمنځ دګډې پولې درلودنکی دی او غزل هم دهمدې تکنیک په اساس ویل کېږي، یعنی دغزل ژانر دجولې دڅرنګوالي له مخې په کلاسیک پېر کې له عربي او پارسي غزلونو سره دګډ برید په لرلو اود ډول ډول نویو منځپانګو په څرګندولو سره ټولنیز سکالوې ځلولي دي .

Ketabton.com

په پښتو ژبه کې ددې ډول نظمي ژانر څخه ګټه اخیستل شوې او په لرغوني پېر کې هم په وګړني وزنونو سره غزلونه ویل شوي دي . په پښتو ژبه کې لومړنی پښتو غزل اکبر زمنیداوري په ۷۷۱-۸۰۷ هـ ق کال کې ویلې ده ، نوموړی وایي :

دخپل ځان له حیوانیه څه ویل کړم ---- دعشق
ویر به تل په خپله پټول کړم

( حبیبي : ۱۳۳۸، ۱۰ مخ )

له دې څخه څرګندیږي چې په دې پېر کې غزل یو پیژندل شوی ژانر دی . غزل دلغت له اړخه په فرهنګ عمید کې داسې څرګند شوی دی . غزل (غ – ز )

له ښځو سره خبرې او ټوکې کول هغه خبرې چې دښځو په ستاینه او عشق کې وشي او دیو ډول شعر نوم دی چې زیاته دښځو په عشق او عشقبازۍ کې وویل شي ، دبیتونو شمیر یې د اوو بیتونو څخه کم او له پنځلسو بیتونو څخه زیات نه وي . ( حسن عمید : ۷۴۱ مخ ) .

غزل دمیني محبت او دعشق پر موضوعاتو لیکل کیده . په لومړنیو وختونو کې دغزل په جولې کې به زیاتره عشقي منځپانګې راتلې ، مګر وروسته د غزل په منځپانګه کې ځیني بدلونونه رامنځ ته شول .

غزل په پښتو ژبهٔ کې هم دنظم یو مشهور ژانر دی چې له لرغوني پېر راهیسې په دې ادبي ژانر کې ډیر شعرونه ویل شوي دي . غزل دقصیدې په څېر مطلع لري او له پنځو څخه تر پنځلسو بیتونو پورې یې دبیتونو شمېر رسیږي او دموضوع تسلسل په کې نه مراعتیږي .

په پښتو ژبهٔ کې لیکني ادبیات چې دشاعر یا ناظم په واسطه په مستقیمه توګه موږ ته رارسیدلي وي ، پخواني تاریخ نه لري او موږ ته دروښان له پېر څخه د ۹۵۰ هـ ق شاوخوا دلیکني ادب یا ددیواني ادبیاتو هغه بېلګې راپاتې دي چې په خپله د لیکوال یا شاعر له خوا دیوان شوي وي .

په دې مهال کې ددې وخت دشاعرانو او لیکوالو لکه ارزاني ، مخلص ، دولت (لواني ) ، میرزا خان (انصاري) ، واصل (ورکزي ) او نورو شاعرانو په شعرونو کې دغزل بیلګې خورا زیاتې دي . په دې پېر کې دغزل موضوع زیاتره ، پند ، نصیحت ، مذهبي او دیني لارښوونې دي . په دې پېر کې دنورو شاعرانه زیږونو تر څنګ غزل هم یوه غوره زیږونه وه او دغوره ادبي ژانر په توګه کارول شوی دی .

عبدالرحیم منانوف لیکي : ((... په هرحال باید وویل شي ، چې روښاني شاعرانو په خپل نوبت سره دافغاني ادب په عنعنه کې مهمه برخه واخیسته او په نورو شاعرانه اشکالو او مضامینو یې دپښتو ادبیاتو غني

Ketabton.com

کولو لپاره ډیر کار وکړ ، څومره چې مواد اجازه ورکوي ، ویلای شو چې ددوی په نظمي ایجاداتو کې غزل مهمه برخه درلوده چې په افغاني تحریري ادبیاتو کې په ۱٤ پیړۍ کې ایجاد شوي دي. ( عبدالرحیم منانوف: ۱۳۵۳، ٤۱ مخ).

له دې مهاله لږ څه وروسته دغه ژانر دخوشال خان خټک او دده دکورنۍ دغړو شاعرانو او هم د همدې پېر دنورو خوږ ژبو شاعرانو له خوا کارول شوی او دې ژانر ته یې دجولې او منځپانګې له پلوه وده ورکړې ده .

په دې پیړ ۍکې ډول ډول سکالووې ( موضوعګانې ) په استادانه مهارت په شاعرانه ژبه په دې ډول شعرونو کې انځور شوي دي . خوشال خان اود خوشال خان کورنۍ نورو غړو شاعرانو په دې ژانر کې ښکلي ښکلي شعرونه لیکلي دي ، چې د(خوشال خان کلیات) ډیره برخه او لومړۍ برخه له غزلو ډکه ده . دده غزلې دبدیعي صنایعو په زیور پسولل شوي او په شاعرانه ژبۀ او خیال، بېلابېلې موضوعګانې وړاندې کړې دي . همدارنګه عبدالقادر خان ختک په ۱۰٦۳ هــ -ق ، اشرف خان هجري ، کاظم خان شیدا او خوشال خان خټک نورو زامنو او لمسیانو ښکلې غزلې ویلي دي ، چې دجولې او منځپانګې له پلوه ډیر لوړ غزلونه بلل کیږي . په دې پیر کې رحمان بابا (۱۰٤۲کال کې زیږدلی) چې په ویناکې یې طبعي خوږ والی ، رواني او فصاحت لیدل کیږي ، ډیر خواږه او په زړه پورې غزلونه چې عموماً دپند او نصحیت سکالووې لري ، لیکلي دي .

همدارنګه عبدالحمید مومند چې په موشګاف نومول شوی دی دپښتو ژبې نازکخیال غزل بول شاعر دی ، دده غزلونه د هر ډول سکالوو په لرلو سره دجولې له مخې دبشپړتیا لوړ پړاو ته رسیدلي غزلونه دي .

عبدالحمید او رحمان بابا دپښتو ژبې په نظم کې دځانګړي سبک درلودونکي دي ددوی په ویناوو کې بېل خوند او رواني لیدل کیږي ، دواړو شاعرانو ډول ډول نظمونه او شعرونه ویلي دي ، چې په نظمونو کې یې دغزل بېلګې هم خورا زیاتې دي . نورمحمدغمجن وایي : (( رحمان بابا (( دحقیقي عشق )) او حمید مومند د (( مجازي عشق )) په موضوعاتو کې ډیر غزلونه ویلي دي . )) ( نورمحمدغمجن : ۱۳۵۹، ۵ مخ ) .

ددې پېر اومهال د ټولو غزل بولو شاعرانو په زړه وړونکو ویناوو کې خوږوالی ، رواني ، دکلماتو وړنده کارول ، دالفاظو ښکلا ، شاعرانه ژبه او لوړ تخیل ، لطافت او نازکي اوهم دبدیع او بیان دصنایعو د پکار وړلو له پلوه ددې ژانر ډیرې بېلګې لیدل کیږي .

په دې پېر کې شاعرانو او ناظمانو دغزل په جولې کې دبدیع او بیان صفتونه په استادانه مهارت سره کارول . ددې پېر په غزلونو کې ډول ډول تشبهات ، استعارې ، کنایې ، دمتلونو راوړل ، دتجنیس ، حسن تعلیل ، مراعات النظیر ، الهام ، تدبیع او نور صفتونه شتوالی لري .
غزل دجولې په ښکلا کې وړنده او په زړه پورې اغیزې ښندلې دي . په دې پېر کې نه یوازې دغزل په جولې کې عشقي سکالووې راوړل شوي دي ، بلکې دمنځپانګې له پلوه هم څرنګوالی او ښه والی په کې لیدل کیږي ، یعنی ډول ډول سکالووې لکه پند ، نصیحت ، پوهه ، اخلاق ، مذهبي او دیني لارښووني راغلي دي .
دغزل ژانر په منځنیو پیړیو کې د دیواني نظمونو او شعرونو یوه برخه جوړوي چې نه یوازې په شاعرانو او ناظمانوکې بلکې دهغه وخت په اولسونو کې هم دپیژندل شوي ادبي ډول په توګه راڅرګند شوي وو .
موږ دلته د عبدالحمید مومند دوه غزلونه دبیلګې په ډول راوړوو ، چې په دې دوو بېلګو کې دغزل د ژانر په جولې کې دوه سره بېلې سکالووې ( موضوعګانې ) راوړل شوي دي ، چې لومړنی بېلګه یې دپند او نصیحت په منځبانګه کې ټولنې او خلکو ته لارښوونه کوي او دزوی دروزلو په برخه کې لارښوونه کوي .
دویم غزل یې دمجازي عشق په برخه کې دی ، چې په دې غزل کې په شاعرانه تخیل او وینا سره دعبدالحمید مومند لوړ شاعرانه استعداد په ښه توګه راڅرګندیږي .

لومړی بېلګه :

نازولی زوی نه اخلي ادب او دسیوري نخل نه نیسي رطب
ونیومشه هغه زوی دې په خواپورې چې یې نه نیولی درس او نه مکتب
په غوجل کې باري خر او کچر ښه دی نه په خونه کې جاهل اوبې طلب
چې پیداشي یو ناکس په قبیله کې وړاندې وروسته بسته کاندي نسب
دپسر په نیکوبدو پلار یادیږي داخبردی په جهان کې مجرب
په سواره باندې یې ګوته شي ایښوده چې یې اس برابر نه ځي په جلب
په زړه مهر په خوله قهر زوی ته بویه څه ښه وایې چیرته ډب هلته ادب

يوسف هاله شولايق دپادشاهی چې يې وخوړې ځپيړې دغضب
هرناکس لکه مګس باندې بونيږي چې حميد بزم ګويی کا شکر لب

دويمه بيلګه:

دداغلي زړه له اهه شم څه شان چپ دچمن په ګلو نه وي بلبلان چپ
خلاص شي ، بيالکه تورزن دتول له منځه که هر څه په غاشوو نيسم زيان چپ
له خامی جوش وخروش خېژي له ديګه وي له خپلې پختګی نه پختګان چپ
په اوبو به دې دمراد ډيوه شي بله که صدف غوندې په صبر کړې دهان چپ
چې دانه په خاورو پټه شي خوشه شي په ګوګل دننه وساته ارمان چپ
دبلبلو نارې ښې نه دي په ګلو چې په سرولمبو کې سوزي پتنګان چپ
لکه کاه وکهربا چې سره بولي هسې پټه خوله بلل کاندي ياران چپ
لکه ژاړي پټه خوله بوره بدنامه هسې کاندي مين زړه اه وفغان چپ
ابرو يې دشکرخور ميلمه به څه کا چې حميدشکرياري که په ګريبان چپ
( غمجن :١٣٥٩ ، ٢٩ مخ ) .

٣- څلوريزه ( رباعي ) : دپښتو نظم ليريک ډول پخوانی ادبي ژانر دی ، چې په پښتو نظم کې ډير لرغونی او غوره ځای لري . په پښتو کې رباعي ته څلوريزه هم وايي .
مخکې له هغه چې په پښتو ادب کې عربي عروض خپلې اغيزې وښندي ، په پښتو ژبه او ادب کې يو ډول رباعي موجوده وه ، چې په ملي وزنونو به ويل کيده .
رباعي دپښتو ژبې او ادب دنورو نظمي ژانرونو په څېر ديوه اوږده تاريخي بهير نتيجه ده . دغه ژانر نه يوازې په کلاسيک پېر کې بلکې په لرغوني پېرکې هم پيژندل شوی ادبي ډول دی ، چې ډيرو شاعرانو په همدې جولې کې شعرونه او نظمونه ويلي دي .
په کلاسيک پېر کې ددې ژانر بيلګې ددې مهال دشاعرانو په ليکونو او شعرونوکې ډير زيات ګورو . پوهاند رشاد

Ketabton.com

وايي : خوشال خان رښتيا ويلي دي ، دده په کلياتو کې د ديواني ادب قصيدې ، غزلې ، رباعي ، مسمطات ( لکه مربع ، مخمس او معشر ، ترجيع بندونه ، ترکيب بندونه او مثنويات په کثرت شته خو د اولسي ادب يعنی پښتو نظم داصيلو او لرغونو شکلونو څرک نه په کې پيداکيږي . ( رشاد : ۱۳٦۷ ، ٥۳ مخ )

پورته په ښکاره ډول څرګنديږي چې د خوشال خان خټک په شعرونو کې ددې ډول ديواني شعرونو بيلګې شته ، چې همدغه موضوع دروښان په پېر او مهال کې هم رښتيانيه لري ، يعنی دروښانيانو دمهال په شعرونو کې هم د ديواني رباعي بيلګې خورا زياتې موندل کيږي.

درباعي تکنيک او جوله دپښتو ژبې دنورو ادبي نظمونو په څرنګوالي او څومره والي کې دارزښت وړ مقام لري . درباعي په جولې کې لندې ، لندې موضوعګانې ددې ژانر منځپانګې جوړوي . دغه لندې لندې موضوعګانې چې دټولنيزو غوره مطالبو دڅرګندولو په خاطر دشاعر له فکر او انديښنې را زيږدلي ليکل شوي دي ، دغه ډول ځېل دهغه مهال دټولنيزو پرابلمونو دحلولو او دښې لارښوونې په برخه کې ستره دنده سرته رسولې ده .

رباعي – دغزل په شان ده خو توپير يې دادی : د رباعي دبيتونو شمير دوه بيتونه وي ، چې دغزل دجولې په څېر لومړی بيت يې مسره وي ، يعنی په وزن او قافيه کې سره يو وي .

همدارنګه درباعي څلورمه مسره دوزن او قافيې له پلوه دمطلع په شان وي .

په فرهنګ ادبيات کې زهراخانلري رباعي داسې راپيژني : رباعي څلور مسرې وي ، چې لومړی ، دويمه او څلورمه مسره يې دواحدې قافيې لرونکې وي . ) (خانلري : ۱۳٤۹، ۲۲٦ مخ ) .

رباعي په پارسي ادب کې د هـ - ق له لرغونو پېړونو څخه ددې ژبې او ادب په شاعرانو او ناظمانو کې دود شوې ده .

ددې ډول شعرونو او نظموونو ريښې دپارسي ادبياتو په تاريخ کې ان څلورمې هجري پيړۍ ته رسيږي . ددې موضوع دروښانتيا په خاطر د ډاکټر ذبيح الله صفا دليکنې پښتو ژباړه تاريخ ادبيات ايران څخه کټ مټ راوړو : (( ددې مهال شاعرانو دشعر په بېلابېلو څېلونو او ډولونوکې دمثنوي ، قصيدې ، غزل ، رباعي او مسمط . ترجيع بند . دوبيتي، قطعه او نورو په هکله ليکنې کړي دي . )) ( ذبيح الله صفا : ۱۳٤۲، ۳۳ مخ ) .

له پورتنۍ ليکنې څخه پوره جوتيږي چې رباعي په پارسي ادب کې په څلورمه هجري پيړۍ کې دنظم دپورتنيو يادو

Ketabton.com

شویو ډولونو په څنګ کې دیو شکلي ادبي ډول په توګه پیژندل شوې او کارول شوې ده .
په پښتو ژبه او ادب کې دغه ډول ادبي نظم په لرغوني پېر کې هم شتوالی درلود ، چې دپښتو په ملي وزنونو سره ویل کیدې ، په کلاسیک پېر او له دې مهاله مخکې عربي عروضو ته نېږدې د دیواني نظمونو په ډله کې درباعي دنظم ډول هم لیدل کیږي . دپښتو ژبې او ادب لومړنی رباعي چې دپټې خزانې له لارې لاس ته راغلې ، خلیل خان نیازي ته منسوبه ده چې دسلطان بهلول (۸۹٤ هـ ) په وړاندې یې لوستلې وه ، هغه رباعي داسې ده :

رباعي

خړې وریځې ژاړي له پاسه کویله ږغ کا بیلتون له لاسه
په هغه لوني ګوهر په خول ستا دا مرحبا کا ستا زموږ مواسه

سلطان بهلول ددې رباعي له اوریدولو سره سم په ځواب کې لاندې رباعي ویلې ده :
ملک به زرغون کړم په ورکړه راسه ګوره وریځې د داد له لاسه
خول مې دعدل په درو روڼ دی جهان به زیب مومي زما له لاسه
(پټه خزانه ۱۳٥٤ ، ٢٤ مخ )

درباعي یوه بله بیلګه د دیواني ادب له رامنځ ته کیدو لږ څه مخکې په کلاسیک پېر کې ویل شوې ده . دا رباعي په رابعې نومې یوې پښتنې شاعرې پورې ( د ۹۲۰ هـ په شاوخوا کې یې په کندهار کې ژوند کاوه ) اړه لري له دې رباعي څخه هم دجولې او دمنځپانګې له مخې ددې مهال درباعي نظم څرنګوالی پوره څرګندیدای شي .

رباعي

ادم مځکې وته راستون کا په اور دغم یې سوی لړمون کا
دوزخ یې روغ کا پرمخ دځمکې نوم یې دهغه دلته بیلتون کا
( حبیبي : ۱۳۳۸، ۱۸۹، مخ )

همدارنګه په کلاسیک پېر کې خوشال خان خټک عربي او پارسي عروضو ته نږدې ډیرې رباعیی لیکلي دي ، چې

دخوشال دکليات يوه برخه درباعي د ادبي نظمونو څخه ډک دی ، چې وروسته به يې بيلګې راوړل شي .
په پښتو ادب کې رباعي دجولې او تکنيک له مخې د دوزنو په پای کې دقافيې درعايت له مخې په دوه ډوله ده .
الف : هغه رباعي چې دواړه بيتونه يې مسرې وي ، لکه په لاندې دوو بيلګو کې :
يوموټی خاورې زېبا صورت کا زړه يې کښوړه دمعرفت کا
ګويا يې ژبه په خپل صفت کا بيا يې له خاورو سره لت پت کا
( دخوشال خان کليات : ۱۹۶۰، ۲۳۲ ، مخ )
ب : هغه رباعي چې لومړی بيت يې مسره او دويم يې غير مسره وي .

لکه :
بې قدره نه دي د راز خبرې د راز خبرې ، دي مرغلرې
ځای يې دننه دزړه صندوق دی وربه يې نه کړي همدم که لرې
( دخوشال خان ختک کليات :۱۹۶۰، ٦٦٤ مخ )
دپورتنيو بيلګو په راوړلو ، درباعي ډولونه او دجولې له مخې يې ځرنګوالی پوره څرګنديږي . درباعي ژانر موضوعګانې - پند ، حکمت او هم عشقي او ټولنيز دي.
له دغو څرګندونو څخه څرګنديږي چې رباعي په کلاسيک پېر کې ديوه غوره ادبي ژانر په توګه کارول شوې ده او دشاعرانو دشاعرانه احساساتو په څرګندولو او د ټولنيزو موضوعګانو په انځورولو کې وړنده مقام درلود .

## ع- پاړکی ( قطعه ) :

دپښتو ژبې دکلاسيک ادب دنظم دليريک ډول ژانر دی . په دې پېر کې نظم دنورو ژانرو په څېر ددې مهال دشاعرانو او ناظمانو لپاره يو پيژندل شوی ژانر وو ، چې په لرغونو مهالونو کې يې هم ريښې ليدل کيږي ، چې په جولې او منځپانګې کې ټولنيزې سکالووې راوړل شوي او انځور شوي دي .
په دې ډول نظم کې لنډې لنډې موضوعګانې چې لوړ ټولنيز ارزښت لري ، څرګندې شوي دي. مخکې وويل شو چې په پښتو ادب کې په دې هنري جولې کې شعر ويل او نظم جوړونه ديوې تاريخي پېښې په توګه لرغونی دود لري .
په پښتو ژبه کې قطعې ته پاړکی وايي . ددې ژبې لومړنی پاړکی (قطعه ) دابومحمدهاشم سرواني ( ۳-۲۲-۲۹۷ ) هـ ق

. له عربي ژبې څخه راوړل شوې قطعه ده چې څرک یې دپټې خزانې له لارې موږ ته لګیدلی دی .
دغه پارکی داسې دی :

ژبه هم ښه وینا کاندي چې وینه دخاوند په لاس کې زر او درهمونه
ژبه ور ورله ورځي وینا یې اوري د درهم خاوندان تل وي پویونه
که درهم یې ځینې ورک شو ،شي نتلی پر نړی یې وي په خرو پیژندون
که بډای سونې وبولي خلق وایي دا وینا ده رښتیا ښه له رښتون
که بې وزلې ووایي رښتیا خبره نور وایي دا خوسونی دی تیرون
هو درهم ښندي هر چا له لویه برخه د درهم دخاوند هر ځای پرتمون
درهم ژبه ده که څوک ژبور کیږي ده په علم که څوک و کاندي قانون

( پټه خزانه ۱۳۵٤، ۲٦ مخ ) .

تردې وروسته په پښتو ژبه لومړنی ویل شوې قطعه، دشیخ رضی لودي ده(۳۹۰ هـ ) داقطعه داسې ده :

دالحاد په لوردې تربلل ګروه دې زموږ وکور اوه .
موږ رونلی په زیارنه تا په توروتور اوه
لرغون ولې ګروهیدلې چې دې ګوښې اړاوه
لودي ستا په نامه سپک شو که هرڅومره درناوه .
( رښتین : ۱۳٤۷، ۱۳۸ مخ ) .

له دې څخه جوتیږي چې په پښتو ادب کې پارکی (قطعه ) لرغونې ریښې لري . له دې سره سره په دې پېر کې په روانه پښتو ژبه دشیخ رضي لودي ( ۳۵۰) شاوخوا او امیر نصر لودي (۳۹۵) هـ ق پارکي لیدلای شو .
ددغو پارکو جولیز جوړښت دپښتو ژبې په وګړنیو وزنونو سره دي . ددې پېر دپارکو په جولو کې دپند او نصیحت اوهم حکمت شکلي منځپانګې راوړل شوي ، چې دهغه وخت دټولنیز ژوند څرنګوالی په کې له ورایه څرګندیږي .
قطعه دیوځېل په څېرد منځنیو پیړیو په پښتو نظم کې هم خورا زیاتې بېلګې لري چې د روښانیانو پېر دشاعرانو له خوا ډیره کارول شوې ده ، چې بیلګې یې ددې مهال په دیواني شعرونو کې شته دي . خوشال خان خټک اوددې پېر دنورو شاعرانو له خوا په دې ادبي او هنري جوله کې خورا زیات شعرونه او نظمونه جوړ شوي دي .

ددې مهال پارکي عربي وزنونو ته نږدې شوي دي او په منځپانګو کې يې ډول ډول موضوعګانې راوړل شوي دي . چې دعشق ، بزم ، پند ، هجوو او نورو اخلاقي خواوو په روښانه کولو او څرګندولو کې ويل شوي دي .

روهي په ادبي څېړنو کې ليکي : (( دخوشال په اثارو کې دشکل تنوع زياته ده ، په نثر کې يې له ساده او مرسل څخه نيولې ترموجز او مسجع پورې بېلابېل اشکال ليدل کيږي .

لفظي صنايعو له نظره دخوشال ديوان ديوه قاموس حيثيت لري . که څوک ديوان پسې وپلټي نو هررازبدیعی صنعتونه به په کې ومومي .

دوست محمدکامل دنمونې په توګه دده په کلام کې دغه صنايع ښودلي دي . (( تجنيس ، حسن تعليل ، طباق الاضداد ، ابهام ، ترجيع بند ، تنسيق الصفات لف ونشر – مرتب او غيرمرتب .

دخوشال په اشعارو کې : مثنوي ، رباعي ، مربع ، مخمس ، مسدس ، معشر ، ترکيب بند ، ترجيع بند ، قطعه ، غزل ، قصيده او داسې نور شته دي . )) ( روهي : ۱۳۶۲، ۲۶۹مخ ) .

پورتنيو څرګندونو څخه څرګنديږي چې قطعه او ددې ترڅنګ نور ادبي ځېلونه او ژانرونه خورا زيات وو ، داچې دخوشال خان په کليات کې دنظم پورتني ډولونه راوړل شوي دي ، نوڅرګنديږي چې په دې مهال کې پارکی ديوه غوره ادبي ژانر ديوې برخې په توګه د ټولنيزو اړخونو په څرګندولوکې کارول شوی دی .

پارکی په وزمين او اهنګوال ډول د رباعي په څېر ويل کيږي ، توپير يې دادی چې په رباعي کې يوازې دوه بيته ليکل کيږي ، مګر په قطعه کې دوه بيته او له دوو بيتونو څخه زيات هم راځي . همدارنګه دقطعې مطلع مسره نه وي ، يعنی لومړۍ مسره يې د قافيې له پلوه سره يونه وي . قطعه تر دولسو بيتونو پورې ويل کيږي ، په فرهنګ ادبيات کې پارکی (قطعه) داسې پيژندل شوې : هغه شعر دی چې له څوبيتونو څخه جوړ شوی او په ښکاره ډول دقصيدې په څېر دی . يوازې داچې دوه لومړنۍ مسرې يې دواحدې قافيې لرونکی دي. دمعنی له پلوه دڅو شعرونو غونډ (مجموعه ) ده ، چې ديوه مطلب او معنی په څرګندولو کې دپند ، حکمت او نورو غوښتنو په څېر وي . قطعه زياتره له دريو څخه تر دولسو بيتونو پورې وي .

( خانلري : ۱۳۴۹، ۴۰۱ مخ ) .

## پارکی (قطعه ) :

Ketabton.com

په پښتو او پارسي ادب کې دګډې جولې له مخې ویل شوي دي . دسکالو له اړخه دپاړکي په منځپانګه کې : پند ، حکمت اونورې ټولنیزې غوښتنې راځي .

دکلاسیک پېر دغه لاندې قطعه دبېلګې په ډول راوړو :

اندیښنه که په غره کښیږدې غربه هم لکه ویښته کا
خوار سړی ملامت نه دی که په غم کې ځان اوبه کا

په پورته ډول پاړکی (قطعه) دجولې او منځپانګې له پلوه دیوه ادبي او هنري پیژندل شوي ژانر په توګه ثرګند شوی . دخوشال خان خټک یوه قطعه .

سره ورغلل دوه غرونه یومغل دویم پښتون
رنځ شدت یې هسې نه دی چې څوک صاف کا خپل لړمون
خدایه ته دا نابینایې هم بیچون هم بیچګون
ته حکیم یې پرې پوهیږې زه پرې نه پوهیږم چون
واړه ستا په حکم کیږي که ګډون دی که شلوون
که بیرون نه شي له ملکه غم لري په کې زرغون
که رودونه پار، پرار وو سږ دوینو دي جیحون
په هرحال شکریایده دې تبه ښه ده نه طاعون

( خوشال کلیات : ۱۹۶۰، ۸۳۰-۸۳۱ مخ )

## ۵- دوه ییز ( مثنوي ) :

دلغت له پلوه هغه دوو بیتونو ته وایي چې دواړه مسرې یې دګډې قافیې درلودونکې وي ، یعنی مثنوي هغه مسره ( بیت) دی چې دواړه نیم بیتي یې په وزن او قافیه کې سره برابر دوه دوه دورونه ولري ، خو په دې شرط چې دمربوط نظم مخکني او وروستي بیتونه په هر وخت په وزن کې سره یو او په قافیه کې سره بېل وي . یعني هر بیت به مسره وي او هره مسره به یې مستقله قافیه لري او په وزن کې به سره یوشی وي .

دادبیاتو په فرهنګ کې لیکي : دفارسي شعر یو ځانګړی قالب دی چې په عربي ژبه کې دفارسي په تقلید ویل شوی او جوړ شوی (( مزدوجه )) یې بولي . مثنوي هغه شعر دی چې دواړه مسرې یې دګډې او مستقلې قافیې درلودونکې وي . په پارسي ژبه کې اوږده بزمي یا رزمي او عرفاني نظمونه دمثنوي په چوکاټ کې کارول کیږي . لکه دمولوي مثنوي ، دفردوسي شهنامه اودنظامي خمیه ( زهراخانلري : ۱۳۴۹، ۴۴۲ مخ ) .

Ketabton.com

حسن عميد ليکي : (( هغه دوه دوه شعرونه چې دواړه مسرې يې دقافيې درلودونکې وي او د دويمې مسرې قافيې يې دلومړي مسرې دقافيې په څېر وي . لکه دفردوسي دشهنامې شعرونه ، دمولينا جلال الدين مثنوي او نور .
عرب دې ډول شعر ته مزدوج وايي ، يعنې زوج ، زوج . )) ( حسن عميد: ۱۳۵۰، ۹۳۸مخ ) .
مثنوي ځانګړی قالب لري چې جوليز جوړښت يې پورته څرګند شو .
مثنوي د فارسي ادب ليريک ډول نظم ژانر دی ،چې وروسته په پښتو ادب کې دود شوي دي .
په پښتو ادب کې دمثنوي دويلو دود له لرغوني پېر څخه راپاتي دي .
په دې هکله جلال الدين ليکي : (( ترکومه ځايه چې ما دمثنوي په باب په پښتو شعر او ادب کې څېړنه کړې ده . دموجودو موادو له مخې چې زموږ پښتو کتابونو کې خوندي او زموږ په لاس کې شته په پښتو ادب کې دمثنوي دپيدايښت له لومړنی بيلګې څخه دپنځمې پيړی په اوايلو کې مخامخ کيږو او هغه هم دشيخ اسماعيل نيکه هغه منظومې نارې دي چې دخوښيو دتګ په وخت کې يې ويلي دي . )) ( جلال الدين :۱۳٦۰، ۱۷ مخ ) .
په پښتو ژبهٔ او ادب کې ددې ډول نظم دبيلګې پته له پنځمې هـ ق پيړی څخه مخکې موږ ته څرګنده نه ده .
په دې ژبه او ادب کې لومړنی مثنوي دشيخ اسماعيل دامنظومې نارې دي .

که يون دی يون دی ، مخکې بيلتون دی له کسي غره څخه ځي خرښبون دی
کــــــــه وروره وروره ، خرښــــــــــبونه وروره ته چې بيلتون کړې ، زما وير ته ګوره
چې ځې مرغی له - توري کرغی له همزولې پاتې - ځې څه برغی له
زړه مـــــې رپيــــــبري ، يـــــار مـــــــې بيليـــــــبري بيلتون يې اور دی ، زموږ کهول ولاړه
( پټه خزانه : ۱۳٥٤، ۹-۱۰ مخونه )
ترديې وروسته تايمني (٥٥۰) هـ ق کې په دې ځواب کې شعر ويلی چې څو بيتونه يې په لاندې ډول دي :

نن زه غږيږم په صفت دسلطان چې دی بادار غازي ملک دجهان
دفيروز کوه او غور رڼاله ده ده هم د تېرو تورو رڼا له ده ده
چې توره وکاږي چړتون کې خالي غليم چې کله کړي په توره سيالي
غياث الدين دغور زمری عاليشان داسلام دين دده په توره روښان

ماد داور په مځکه ولید ادم دادجنت په څېر وبڼ ښه خرم

(رښتین :۱۳۴۷، ۲۳ مخ .)

تر تایمني وروسته بله مثنوي داکبر نومي شاعر ده چې دګوډ تیمور هم زمانه او دزمیندداور اوسیدونکی دی ( ۷۷۰ هـ-ق ) شاوخوا کې اته څپه ییز سیلاب کې مثنوي ویلې ده .

دبېلګې څوبیتونه یې دادي :

زه عاشق یم یار هم نیز نورڅه نلرو تمیز
یو پربل عاشقان یو هم په عشق خپل صادقان یو
یو په بل پسې رنځور یو چې نژدې نه یو رنځور یو
عشق که ښه دی ، که بلا دی پند راکړی زموږ مولی دی

( رښتین : ۱۳۴۷ ، ۳٤ مخ )

تراکبر وروسته بله مشهوره مثنوي دزرغون خان نورزي ده ، چې په ۹۲۰ هـ - ق کې په دهراوت کې مړ شوی دی .

دشعر بېلګه یې :

ساقي پاڅه پیاله راکه مرور یار مې پخلا که
پسرلی شو غنچه ګل کا زلفې تاوې دسنبل کا
اوبه تویې په لمبو که اور مې مړ په دې اوبو کا
هرسړی په میو مست دی دې بهار کې ګل پرست دی

( رښتین : ۱۳٤۷ ، ۳۵ مخ )

دلرغوني پېر څو مثنوي چې په دې مهال کې ددې ژانر جولیز جوړښت ترې څرګندیږي او په ګړني تول او وزن ویل شوې وړاندې شوه .

دمثنوي دپیدایښت په هکله چې ایا دچا لخوا او په کومه سیمه کې ویل شوې دادب پوهانو او ادبي کره کتونکو ترمنځ دنظر یو والی نه لیدل کیږي ، له دې امله دمثنوي دپیدایښت په برخه کې نوموړي پوهان او کره کتونکي پر دوو ډلو ویشل کیږي . لومړي ډله پوهان په دې نظر دي چې مثنوي لومړی په پارسي ژبه او ادب کې رامنځ ته شوې او وروسته بیا په عربي ژبه کې دپارسي ژبې په تقلید او پېښې دمثنوي په جوله شعرونه ویل شوي دي .

دویمه ډله پوهان بیا په دې دې نظر دي چې دلومړي ځل لپاره مثنوي په عربي ژبه او ادب کې رامنځ ته شوې او له عربي څخه بیا وروسته په پارسي ادب کې په دې جوله

Ketabton.com

دود شوې ده ، خومثنوي وروسته بيا له عربي ژبې څخه په پارسي ژبه او ادب کې زياته پرمختيا او وده کړې ده .
ښاغلی جلال الدين ليکي : که د دواړو ډلو پوهانو نظريې سره پرتله کړو ، دلومړي يا الف ډلې پوهان يوازې دمثنوي پيدايښت اساساً په دري ادب کې ګڼي ، ولې دځپلې ادعا دثبوت لپاره داسې کومه بيلګه نه وړاندې کوي چې دهغې له مخې دمثنوي تاريخي لرغونتوب څرګند شي او هم په دري ادب کې د دريمې هجري پيړۍ په شاوخوا او دڅلورمې هجري په اوايلو کې دنظمونو نيټه اټکل کيږي .
دوهمه ډله پوهان مثنوي دعربو دايجاداتو څخه ګڼي او دبني اميه په عصر کې دهغې دبيلګو نومونه اخلي .
ډاکټر شوقي ضيف دابوالفرج اصفهاني دالاغاني دمولف په حواله ليکي: وليد دعبدالملک په تعليمي شعر کې شهرت پيداکړی . وليد دغه خطبه د دوهمې هجري پيړۍ په لومړيو لسو کلونوکې ويلې ، داسې معلوميږي چې مثنوي دعربي خوندي اثارو له مخې تر پارسي ادب دمخه ويل شوې ده ، که څه هم عربو مثنوي دمخه ويلي دي ، ولې دا هم يو واقعيت دی چې عربو تر اوسه پورې مثنوي ته انکشاف نه دی ورکړی او همدغه غير عربي خراساني شان وو ، چې هم يې دفورم له مخې اوهم دمحتوی له نظره مثنوي ته انکشاف ورکړی او د تکامل لوړو مدراجو ته يې ورسوله او نړيوال شهرت يې پيداکړ ... )) (جلال الدين : ۱۳۶۰، سريزه ، الف مخ ) .
له دې څخه څرګنديږي چې په پښتو ژبه کې ترپارسي ژبې وروسته په پنځمه هجري پيړۍ کې په مثنوي کې شعرونه ويل شوي دي .
په پښتو ژبه کې دجولې له مخې داته څپيز ، لس څپيز، دولس څپيز، ديارلس څپيز ، څوارلس څپيز او شپاړس څپيز مثنوي نظم بېلګې شته دي . مثنوي په کلاسيک پېر کې دروښاني مهال دشاعرانو ترمنځ پيژندل شوی غوره ژانر دی .
دمثنوي دجوليز جوړښت له مخې چې دبيتونو قافيې يې مستقلې دي ، نو په دې ډول ادبي جوله کې پراخې او اوږدې سکالووې راغلي دي . ددې ژانر دبيتونو شمير محدود نه وي . ديوې موضوع په څرګندولو کې هر څومره چې دشمير له مخې بيتونه وويل شي ، کوم توپير نه کوي . له همدې امله دمثنوي په جوله کې کيسې او حکايتونه دعشق او محبت او هم ديني او مذهبي مطالب ډير ليدل کيږي .
په کلاسيک پېر کې هم، مثنوي د روښان او دده دمهال دنورو شاعرانو په واسطه ويلي شوي دي اوپه دې جوله

Ketabton.com

کې اوږدې اوږدې سکالووې راوړل شوې دي چې تصوفي ځانګړتیاوې لري .

دخوشال خان خټک او دده دکورنۍ دنورو ادب پالونکو شاعرانو او هم ددې مهال دنورو شاعرانو لکه حمید مومنداو رحمان بابا په خوږو شعرونو کې نه یواځې د مثنوي شعرونو دبیلګو ځرک موږ ته لګیږي ، بلکې په دې مهال کې هر ډول کیسې ، افسانې ، عشقي ، رومانتیکي افسانې ، مذهبي او دیني جنګنامې په پښتو ژبه مثنوي شوي دي .

دخوشال خان خټک دمثنوي بیلګه :

دهرچاسره چې یونفس قرین شوم
دهغوله خویه بویه په زړه شین شوم
زړه مې خوښ په هیڅا نه شوپه عالم کې
له عالمه سره زیست کړم په ډیر غم کې
ځوک دسود له مخه ځوک راسره یار شو
چې یې خپل مقصودپوره شو نو ویزار شو
هر چې تاسره یاري کاښه یاران دي
همګي واړه لړم دي یا ماران دي
زامن واړه دزړه رنځ دخپل بابا وي
لونۍ کل دزړه ژورې دماما دي
که دې یار دی که دي خوښ دی که دې ورور دی
دخپل ځان دي دخپل سود دي دخپل کور دي
تش دخولې لباس لباس دي سره کیږي
دهرچا خاطر خپل سودو ته پړکیږي .
دراحت په وخت سل لاپې دیاري کا
دمحنت ساعت چې راشي ویزاري کا
( اشنا : ۱۳۳٦، ٥۳ مخ )

په پورته ډول لیدل کیږي ، چې مثنوي دجولې او مضمون له پلوه دکلاسیک ادبي ژانر په توګه غوره ادبي مقام لري چې په منځنیو پیړیو کې عربي وزن ته نږدې شوی او موضوعګانو له پلوه نوی والی او تازه والی په کې لیدل کیږي او دمثنوي د ودې او بشپړتیا پړاو همدغه پېر ګڼل کیږي . دخوشال خان خټک ځلور منظوم اثار لکه طب نامه ، فضل نامه ، اخلاق نامه او فراقنامه په مثنوي نظم ویل شوي دي .

عبدالقادر خان په ۱۱۱۲ هـ ق کې دمولانا عبدالرحمن جامي یوسف زلیخا مثنوي نظم له پارسي څخه پښتو نظم ته اړولی دی .

همدارنګه دصدرخان ( ادم خان درخانی) په ۱۱۱۸ هـ ق کې په مثنوي نظم سره ویل شوی دی.

دعبدالقادر خان د(یوسف زلیخا) مثنوي څو بیتونه چې دخپل اثر په پیل کې ویلي دي :

Ketabton.com

عنایت ربه په ما کړه دامید غنچه مې راکړه
په خنداکې باغ زماکړه معطر دماغ زما کړه
شناسامې په نعمت کړه ماګویا په خپل صفت کړه

( جلال الدین : ۱۳۶۰، ۲۹ مخ )

دصدرخان خټک د (ادم خان درخانی) دکیسې دپیل څو بیتونه :

زما پلار ځای یې جنت شه په اولاد یې برکت شه
نیکوخلق نیکو ګفتار و نوراني علوي دیدار و
خلق یې هسې په اوصافو وو چې ترې هېڅ داهوناف
دهنر دعلم کان و عالیجا، عظیم الشان و

( جلال الدین : ۱۳۶۰، ۲۹ مخ )

همدارنګه زرغونه کاکړه د ۹۰۳ هـ -ق په شاوخوا کې لومړنۍ ښځه ده چې د شیخ مصلح الدین سعدي بوستان یې په پښتو ترجمه کړی دی ، دلته یې څو بیتونه را اخلو :

اوریدلې مې قیصه ده چې له شاتو نه خوږه ده
داختر په ورځ سهار بایزید چې و رویدار
له حمامه راوتلی په کوځه کې تیریدلی
ایرې خاورې چا له بامه راچپه کړلې ناپامه
مخ او سریې سو ککړ په ایرو په خاورو خړ

( پټه خزانه : ۱۳۵٤، ۱۰۵ مخ )

پورتنۍ بیلګې موږ ته دجولې او منځپانګې له مخې دپښتو ادبي نظم په منځني پېر کې راپه ګوته کوي چې هر ډول اوږده او لنډ مطالب په کې راوړل شوي دي .

دشېرمحمد هوتک په ( ۱۰۹۲ هـ -ق په کندهارکې زیږدلی ) اسرار العارفین او د حمید مومند ۱۱٤۸ هـ -ق شریعته الاسلام اوهم نورو د ډول ډول دیوانونو یادونه کولای شو چې په مثنوي جوله کښل شوي او لیکل شوي دي .

## ٦- دریز ( مثلث ) :

دمسمطاتو له ډولونو څخه یو ډول یا څېل دی چې دلیریک ادبي نظم ډول بلل کیږي . دمسمط پیژند او ډولونه د څلوریزو (مربع ) دژانر په څرګندولو کې، چې وروسته تر دې به پردې ژانر هم خبرې کیږي، راوړل شوي دي .

دمثلث مطلع په عمومي توګه یوه مسره وي چې درې واړه په خپلو منځو کې سره هم قافیه وي او په بندونو کې دهر بند دوه لومړنۍمسر ې په خپلو منځو کې او دریمه له مطلع سره په قافیه کې برابره وي او دا دقافیې

Ketabton.com

رعایت د درییز ( مثلث ) ترپایه پورې ادامه مومي لکه :

وګټه ځان پښتونه خپل عزیزان پښتونه
یوځل ښکاره کړه بیا دنیا ته کلک
ایمان پښتونه
ژونددذلت دې ورک شي پردی منت دې ورک شي
تاسره زیب کوي ازاد پښتونستان پښتونه
دمرېې ژوند به څه وي دځوانی خوند به څه
وي
داسارت له ژوند نه ښه دی ګورستان پښتونه
باتجربه سرباز یې دلوړو غرو شهباز یې
بې ننګي نه ده مناسب دتا په شان پښتونه
دلوغړن ملنګ جان واوره دا اه وفغان
چې خجالت نه کړې په ګور کې خوشال خان پښتونه
( ملنګ جان : ۱۳٤۸، ۹۵ مخ )

پته دې پاتې نه وي چې په پښتو کې یو بل ډول درییز (مثلث) هم شته چې درې مسرې لري ، لومړنی او اخرنۍ مسره یې متحدالوزنه او متحدالقافیه وي او څپې یې دشمېر له پلوه دولس دولس دي . دمنځ مسره یې لنډه او دقافیې له قیده ازاده او اته څپې وي ، ولې په وزن کې دنومړو مسرو پیروي کوي .

دا ډول مثلثونه دنارو په بڼه دپښتو په ځینو منثورو کیسو کې ویل شودي . دبېلګې په ډول :

دفتح ګړنګه نال به دې زرین کړم
که دې دا وار فتح راوړ
خپل امېل بۀ ستا دغاړې لونګین کړم
یا :
که کوترې ، دکلا دسرکوترې
فتح وایي یا مې خور یې
یا راووزه دروازه کړه دړې وړې .
( حبیب الله رفیع :۱۳٤۹، ۱۸۸-۱۹٤ مخ
)

## ۷- څلوریز ( مربع ) :

دپښتو ادب دکلاسیک نظم په نورو ژانرونو کې مربع هم ډیر غوره ځای لري . مربع دپښتو ژبې او ادب دلیریک ډول ژانر دی . دا ژانر هم ډیر پخوانی او لرغونی تاریخ لري چې بېلګې یې په لرغوني پېر کې شته دي . مربع دپښتو ژبې او ادب ډولونو په څنګ کې ددې ژبې په ادبي ښکلا کې ځلانده ونډه لرلې ده ، لکه چې لیدل کیږي مربع دمسمط د ډول یو ژانر دی . دمسمط نور ژانرونه : مخمس ، مسدس ، مسبع ، مثمن ، ان ترمعشره

پورې دی ، چې هر ژانر یې دځانګړې جولې او تکنیک درلودنکی دی .
په دري ادب کې مسمط دڅلورمې هجري پیړۍ په وروستیو کلونوکې دود شوی دی ، ددې ډول نظمي ژانرونو بنسټ ایښودونکی او نوښتګر په دري ژبه او ادب کې منوچهري دی ، منوچهري دڅلورمې هجري پیړۍ دوروستیو کلونو شاعر دی .
ډاکټر ذبیح الله صفا په تاریخ ادبیات ایران کې لیکي : (( له دې ډولونو څخه ځیني لکه ترجیع بند او مسمط ددې پېر په وروستیو کلونو کې وینو او د مسمط نوښتګر منو چهري ددې پېر دوروستیو کلونو شاعر دی . )) (ذبیح الله صفا: ۱۳۴۲، ۲۶٦ مخ )
ددې اړینې له مخې چې مسمط دلغت او ادبي اصطلاح له مخې څرګند شي په عمید فرهنګ کې داسې لیکل شوي : (( مسمط ( م . س . م . ) هغه حکم چې رد نه شي او پرهغې باندې نیوکه (اعتراض) نه وي او دبدیع دعلم په اصطلاح هغه دی چې شاعر څلور یا پنځه یا شپږ مسرې یا زیاتې تر لسو پورې هریوه قافیه وواېي او وروسته بیا یوه مسره په بله قافیه راوړي . په اصطلاح کې څلور مسریز ته مربع ، پنځه مسریز ته مخمس او شپږ مسریز ته مسدس وایي ، لیکن ددې علم نوم مسمط دی . یعنی دغه ټول په مسمط نوموي . ))
مسمط دنظم له ډولونو څخه دی او په دې پورې نور دنظم ژانرونه لکه مربع ، مخمس ، مسدس ، مسبع او تر معشره پورې راځي .
مربع دنظم داسې یو ژانر دی چې دوزن او اهنګ له پلوه درباعي په شان ده خو توپیر یې دادی چې مربع له لومړي څخه تراخره پورې دوه ، دوه بیته وي . داولو دوو بیتونو مسرې یې په قافیه کې سره یو ډول وي . دنورو بندونو لومړني درې مصرې یې بېله قافیه لري او څلورمه مسره یې بیا لکه دلومړیو دوو بیتونو په شان وي . دمربع د ویلو طریقه هم ځانګړې ده چې په ځانګړي وزن سره څه وخت چې څلورمې مسرې ته ورسیږي نو هغه اول بیت بیا ورسره تکراریږي .
ددې ادبي جولې ځانګړی جوړښت د ویلو په وخت کې په نظر کې نیول کیږي .
په پښتو ادب کې تر ټولو پخوانی څلوریز ( مربع ) چې لاس ته راغلې دخر شبون بابا شعر دی . هغه وخت چې له کیسي غره څخه مرغۍ ته کډه کولو ، دخپل تره زوی اسمعیل په ځواب کې دایوه څلوریز(مربع ) ویلی دی :
بیلتانه ناره مې وشوه په کور باندې نه پوهیږم
چې به څه پیښ وي په وړاندې

له خپلوانو نه بیلیږم په سرو سترګو دواړه
سترګې مې نیولي دي ژړاندې
اسماعیله ستاناروم‌ې زړه سوری کړ بیلتانه خرښبون
بیاله تا پردی کړ
نه هیریږي که مې بیا نه تایادي کړ په چړو
دویر به پرې شي دزړه مراندې
( پټه خزانه : ۱۳۵٤، ۱۰ مخ )

دمربع په جوله کې ډول ډول سکالووې لکه عشق ، پند ، نصیحت راغلي دي . په کلاسیک پېر کې یعنی د دیواني اشعارو په رامنځ ته کیدو سره په ځانګړې توګه دخوشال خان خټک دادبي زیږونو په ډولونو کې مربع خپل جولیز او منځپانګیز لوړ پړاو ته رسیږي . په دې مهال کې مربع دنورو ادبي ژانرونو په څېر عربي نظم ته نږدې ویل کیږي .

له کلاسیک پېر څخه دخوشال خان خټک د څلوریز ( مربع) بېلګه په لاندې ډول وړاندې کیږي :

دریغه بیا مې دوه په دوه ویلی راز وای
لا یو راز ویلی نه دبل اغاز وای
ستا له لوري واړه ناز له مانیاز وای
په مزه مزه خواږه ویل باز باز وای

همیشه په هغه خوی کې چې دخپل وو
هغه خیال چې دې دزلفو دوربل وو
دا ښایسته خاطرې هسې لکه تل وو
فراغت بیغمي تاسره دم ساز وای

چې به تاپیاله دمیو راکوله
ستا دشونډو دبوسې سره مې څښله
زه مست شوی ته هم مسته لایعقله
مې خوري دې په سرتور ګریوان واز وای

له همه واړه عالمه ور ترلی
ستا له لاسه دمادم باده خوړلی
صراحي راته خنداکړای شمع ژلی
په جهان کې خو دا دوه توکه انباز وای

ښه اواز که دبربط دموسیقار دی
یا دجنګ دمغنی یا دم دماز وای
درباب دچارې تار یادبل تار دی
مه وای دا ستا دجړا د ښو اواز وای

دوصال په کامرانی مې دسترس وای
لکه وه چې هغه مینه یوپه لس وای
په تیکو باندې ښادي هوا هوس وای
په ډیر غم کې چهره زرده دغماز وای
چې یې ولیدې دیار په خط وخال کې

Ketabton.com

په هزار رنګه خوښي يې په وصال کې
هومره غم بيلتانه کښيښود په خوشال کې
مه بيلتون واى مه يې د اسوزو ګداز
واى

## ٨- پنځه ييز ( مخمس ) :

دپښتو کلاسيک نظم دليريک ډول ژانر دی چې دمربع ، مسدس ، مسبع او نورو په څېر دمسمط ادبي نظم له ډولونو څخه ګڼل کيږي.
پښتو ادب ددې ډول نظم بيلګې په کلاسيک پېر کې خورا زياتې لري . دديواني ادب په دود کيدود عربي وزن په دود ويل شوي او نږدې کړی شوي دي .
په کلاسيک پېر کې خوشال خان خټک او هم دنورو شاعرانو لکه پيرمحمدکاکړ او ددې پېر په نورو ادبي نوشتونو کې ددې ډول نظم بېلګې شته .
خوشال خان خټک دځينو ادبي نظمي ډولونو څخه پرته نور دنظم په ټولو ډولونو کې شعرونه ويلي دي . پوهاند رشاد وايي : (( رښتيا هم دخوشال خان دپښتو نظم درنه مجموعه چې ولټوله شي له مستزاد او ځينو مسمطاتو لکه مسبع ، مثمن ، متسبع څخه پرته دپارسي نظم نور ټول شکلونه په کې موندلی شو . )) ( رشاد : ١٣٦٧، ٥٢ مخ )
مخمس دجولې له مخې له څوبندونو څخه جوړ شوی او هر بند يې پنځه مسرې لري ، دلومړي بند د پنځو واړو مسرو قافيې سره يوشان وي مګر دنورو بندونو څلور مسرې يو ډول قافيه لري او پنځمه مسره يې دلومړي بند دقافيې په شان قافيه لري .
بېلګه يې :
ګوره موږ به څه شو هيڅ خبر نه يوله حاله ورځ
اوشپه چې دورمي خالي نه يوله جنجاله
موږ په مرګ به و مروکه موعمرشي زرکاله ګور لره
به ورشو ډلې ډلې له وباله
بله تکيه نشته خو هم ستا ده ذولجلاله
شي دمرګ له لاسه په هرلورې طوفانونه درومي په
ساعت کې دکالونو سامانونه
پاتې شي په زړه کې په زرګونو ارمانونه کانې يو
که څه يو ، بلا سخت لرو ځانونه
حال موبدل نه شي نه څه کم له خپله خياله
کله خيال دپولو،د پټيو ، دباغونو کله خيال
ددشتو، د ډاګونو دراغونو
کله خيال دزرو د ګوهرو دلالونو کله خيال
دعيش عشرت د اياغونو
کله خيال دکښلود جمال له خط وخاله

لږ خیالونه نه دي که یې وایم په زرګونه هرزمان رازیږي واړه ستا له اندرونه
ورځ وشپه پرې دروميي دخیالونو کاروانونه هم په بیدارۍ هم په شپه ویني خوبونه
ستا دزړه مینه په خیالونو مالامال
کله کوز مځکه کله پاس په اسمان شي کله ګدایي کړي کله ځان لره سلطان شي
کله شېخي واخلي په حلقه د درویشان شي کله دانشمند مل ودانادد درست جهان شي
سرشي په ویلو په څورنګه قیل وقاله
څورنګه ستاینه دخپل علم کړي اغازه هم له خپله علمه هم له زهده له نمازه
ته که غلیوازي خپسو واړه کړي تربازه نوري بازۍ څه دي بازي خلاص سره انبازه
شرم حیانکړي نه نادم شي له افعاله
ماروي هغه علم چې په تن دچالګیږي یاروي هغه علم چې و زړه وته رسیږي
درست تحصیل حاصل کړه چې خصلت دې نه بدلیږي ځزي کتابونه په تانښلي روانیږي
هیڅ دی هغه علم چې خالي دی له اعماله
کله د رویشان دي چې دخدای په نامه غواړي درپه درجاروزي لکه خرونه هسې نغاړي
هیڅ پوښتنه نه کاچې څه مومي واړه نغاړي کورته چې څه یوسي په خندا خندا وویاړي
تش خالي چې ورشي خوب یې نه کیږي په ساله
ښه سړی هغه دی چې ځان کم ګڼي تربله میکرود روغ نه کړي په رښتیا کې وي هرکله
چارچې باندې ورشي بله لار ښهٔ کاترخپله شکرپه نعمت کا په بلاخبر تربله
زړه یې خالي نه وي همیشه له اشتغاله
عقل اسماني دی ته یې مه غواړه په مځکه ځای دګومې راغی په حکیم په پندت ځکه
خپله پوهه واړه شریعت وته کړه ورکه سپک به شي بیشکه څوک چې شرع ګوري سپکه
لار دشریعت ده بې افته بې زواله
څو رنګه عالم دی خوش خرم په خپل روزګار کې هرچاته چې ګورم واړه ښخ دي په خپل کار کې
واړه خپل مراد غواړي په صبرپه تلوار کې سودګوري مقصود ګوري په هره چار کې
واړه خپل قسمت خوري د دنیا له ملک وماله
ولې خناس نه دی چې مالک دزرو پول شي کبرلويي واخلي عجب خیال باندې نزول شي

Ketabton.com

دی که ناقبول دی په هرچاباندې قبول شي          کله یې
نظر دچا په فرغ په اصول شي
څه به درته وایم زه
دزړو له احواله
خدایږو که خبر وم چې دا زرهسې بلادی          اوس چې پرې
خبرشوم راته بد تر اول لا دی
ځکه راته بد شول چې دهرسفله تر ملادی          مخ دهغو
تورشه چې په زړو مبتلادی
نام لره په کار دی که نه کم دی ترسفاله
پاک دی که ناپاک دی دخپل ځان ثناصفت کا          خوښ له
خپله ځانه په خپل کارکې فراغت کا هیڅوک محتاج نه دی چې به غوږ
په نصیحت کا          خپل غرض ته گوري کار دزړه په مصلت کا
ولې فضولي کړې دم په خود اوسه خوشاله
( دخوشال خان کلیات :۱۹۶۰، ۹۳۲-
۹۳۴ مخونه ).

په پورتني مخمس کې دجولې او منځپانګې له مخې ددې ژانر ځانګړتیاوې څرګندیږي ، ددې نظم په منځپانګه کې دپند او نصیحت سکالووې راغلې دي او ټولني ته دټولنیزو نیمګړتیاوو څرګندونه کوي .

## ۹- شپږیز ( مسدس) :

د دیواني شعرونو دنظم هغه ژانر دی چې هر بند یې شپږ ، شپږ مسرې لري . د اول بند ټولې مسرې یې په یوه قافیه کې ویل کیږي او بیادهربند شپږمه مسره یې د اول بند دمسرو په قافیه وي . مخکې دمربع بحث کې دې موضوع ته اشاره وشوه چې دمربع هربند څلور ، دمخمس پنځه ، دمسدس شپږ ، دمسبع اوه ، دمثمن اته ، دمتسبع نه او دمعشر لس بنده وي . دبندونو دشمیر له مخې له اول بند سره په قافیه کې یوشان وي .
په اهنګ او ویلو کې دمسمط ټول پورتني ډولونه یوشان وي ، یوازې دبندونو دشمیر په څرنګوالي کې توپیر لري .
دلغت له مخې مربع ته څلور کونجی ، مخمس ته پنځه کونجی ، مسدس ته شپږ کونجی او مسبع ته اووه کونجی ان تر معشره چې لس کونجی یې بولي ،ویل کیږي.
په مسدس کې نوي ډول ډول مطالب چې زیاتره یې پند او حکمت وي، راځي .
دنظم په دې جولې کې ټولنیزې غوښتنې په هنري ژبه انځوریږي . دغه ډول نظم په کلاسیک پېر کې خورا زیاتې بیلګې لري او پیژندل شوی ژانر دی .
دلته دپیرمحمدکاکړ دمسدس څوبیتونه دبېلګې په ډول راوړو :

Ketabton.com

هجران انبار کړه پرما غمونه
ضعیف نحیف شوم په تن زبونه
اورمې بیابل شو دزړه په خونه
ګهې ژړا کړم ګهې اهونه
اوښي مې څاڅي له جګرخونه
رنځ مې زیاتیږي له دې تاخونه
پټن چې مینه په دې څراغ کا
اخر سینه په اور باندې داغ کا
زړه دې له شکلو عاقل فراغ کا
فراق را درومي فتور به چاغ کا
ځای د محنت به ددنیا باغ کا
دا مرګ خزان دی خوبان ګلونه
فلک اسیف دی زړونه ورغاندي
ناسازې چارې په هرچا کاندي
غمجن ژړا کړي بې غمه خاندي
قدم په ورو ږده نادانه وړاندې
چې پامالیږي ترځمکه لاندې
واړه ځلمي دي یا کښلې نجونه

## ۱۰- اوویز ( مسبع ) :

دپښتو په ادبي کلاسیک نظم کې یو ډول او ژانر دی ، اوه بندیز یا مسبع ژانر داسې نظمونه دي چې هر بند کې اوه مسرې وي ، یعنی درې نیم بیته وي ، دمسبع دلومړني بند اوه واړه مسرې په یوه قافیه وي لکه مربع ، مخمس او مسدس او کله داسې هم وي چې په سرکې یې دمطلع په څېر یو بیت وي ، چې په یوه قافیه وي او ورپسې دبند شپږ مسرې په بله قافیه وي او ددغه بند اومه مسره دمطلع په قافیه وي ، په دې ډول دنظم ترپایه پورې دمسبع داول بند لکه دغزل د اول بیت په شان ویل کیږي . دغزل مطلع اول بیت وي د مسبع مطلع اولنی بند وي او لکه چې دغزل دهر بیت مسره په قافیه کې د مطلع دقافیو سره برابر وي . دا ډول دمسبع دهر بیت وروستی مسره په قافیه کې دمطلع له قافیو سره برابر وي . دارنګه دمسبع دهر بند وروستی مسره هم داول بند له مطلع سره په یوه قافیه کې راځي .
مسبع له مسدس او مخمس سره نور توپیر نه لري یوازې دومره توپیر لري چې د مخمس دهریو بند مسره پنځه ، دمسدس شپږ او دمسبع اووه وي . قافیه ، وزن او اهنګ کې ټول سره برابر وي . ددې ډول نظم بېلګې دپخوانیو او کلاسیکو شاعرانو په دیوانونو کې نه لیدل کیږي .
همدارنګه په همدې ډول د مثمن هر بند اته مسرې ، دمتسبع نه مصرې او دمعشر هر بند لس مسرې وي .

Ketabton.com

## ١١- نهه ييز ( متسبع ) :

په متسبع کې مطلع او بندونه له نهو نهو مسرو څخه جوړ شوي وي . مطلع به متحدالوزنه اومتحدالقافيه وي او دهر بند اته مسرې به په خپل منځ کې او نهمه به له مطلع سره همقافيه وي او بندونه دوزن له مخې د مطلع له وزن سره يوشي وي . دمتسبع بېلګه مې په چاپي منظومو ديوانونو کې په نظر رانه غله دا لاندې بېلګه مې دپښتو معاصر شاعر عاشق الله ( فرياد) له ناچاپه شعري مجموعې څخه راخېستې ده .

ديار په پاکه مينه ډير ژړيدلى يمه زخمي
زخمي له غمه ډير درديدلى يمه
سپو رقيبانو مدام هرځاى رټلى يمه ديار له دره
ځيني بينوا تللى يمه
تورو ملالو سترګو په اورداغلى يمه خدنګ دتورو
بڼو په زړه ويشتلى يمه
په درد وغم دهجرهم کړيدلى يمه د دود دستور
او سيالى ځيني وتلى يمه

دزمانې ظلمونو ډير ځورلى يمه
خوشالي نه وينمه عمرپه غم تېريږي که هر څوزړه
صبروم له ياره نه صبريږي
دخوار ماشوم په شانې سبابيګاژړيږي لکه پتنګ په
شمع په سرو لمبو کړيږي
چې اشنا ظلمونه کوي په حال مې نه رحميږي چانه ګيله
نه کوم نصيب مې خپل رسيږي
رنګ مې خراب له غمه ژيړ او
زبيښلى يمه

يادونه کوم چې پورتنۍ بېلګه مې داستاد جلال الدين صافي له څېړنو چې دمسمطاتو په برخه کې يې کړې ده ، اخېستې ده .
دغه راز دمثمن بېلګه هم پيدا نه شوه او په کلاسيک پېر کې په چاپي اثارو کې يې بېلګه زما په نظر رانه غله .

## ١٢- لسيز ( معشر) :

دليريک ډول له نظمونو څخه دى چې هر بند يې لس مسرې دى . د معشر بېلګه د خوشال خان په لاندې شعرکې وګورئ .
دمعشر بېلګه :

Ketabton.com

ته خپل خوب کوه پتا — که زه درسته شپه بې تا
سترګې سرې کړم په ژړا — نارې وهم په واویلا
چې ترکاڼې سخت دی دا — که زړه سوی دې شي په ما

نور څه نه غواړم له تا
مکړه دا هومره جفا

که تیره توره وکښلې — راشې ته قهر نیولې
رقیبانو سند ولې — دواړه لیچې دې غښتلې
بیا یوځوکلی وهلې — وکشتن ته جوړیدلې
مادې دا جفا منلې — خون بها مې در بخښلې
هومره مهر وکړه کښلې
را ښکاره کړه خپل لقا

ستادمخ په ارمان مرمه — کوک په کوک ناري وهمه
دا ارزو په زړه لرمه — که ترځایه دې درشمه
چرته دروم څو ک پوښتمه — چې وهر لورې ته ځمه
په سرونو قدم ږدمه — په لار ستړې ودرومه
تل په داطلب کې خورمه
دزړه وینې یک تنها

هغه ورځ چې مین کیږي — عاشقان ترسرتیریږي
که عالم درته رسیږي — نه یې ننګ وي نه شرمیږي
نصیحت پرې نه لګیږي — له کشتنه نه ویریږي
لایعقل شی نه پوهیږي — خومجنون شي ودریږي
پورې خلق حیرانیږي
له هر چاوي شا په شا

نورې یې هیڅ نه وي په دل کې — په سکوت او په ویل کې
په خوړلو په نوشل کې — په خلوت او په محفل کې
په میدان او په ځنګل کې — په لیدل او په کتل کې
په فروخت او په پېرل کې — په ولاړ په پریوتل کې

په اسان او په مشکل کې
دخپل یار لري هوا

که هجران وي که وصال وي — دواړه ده وته یوحال وي

که هزار غرونه جبال وي ډير بندونه ډير اطلال وي
تر دامنځ پرده محال وي او ښکاره ديار جمال وي
جلوه ګريې خط وخال وي خوش خرم ديار په خيال وي
هم په دا ليده خوشال وي
نه کامله تمنا
( دخوشال کليات : ١٩٦٠، ٩٤٨-٩٥٠ مخونه ) .

## ١٣- مستزاد :

دپښتو ادبياتو دنظم دخزانې غوره پانګه ده ، دنظم دا ژانر په کلاسيک ادبي نوښتونو کې غوره ځای لري . ددې نظم دلغوي خوا دڅېړلو په برخه کې په فرهنګ عميد کې راغلي دي ( عميد: ١٣٥، ٩٦٨ مخونو ) .
(( مستزاد : زيات شوي ، زيات کړای شوي او دبديع دعلم په اصطلاح کې هغه شعر ته وايې چې دهرې مسرې په اخر کې يې څوکلمې له وزن څخه زيات شوی وي . راوړل شي . )) چې دغياث اللغات په فرهنګ کې يې بېلګه داسې ده :

درخواب جمال يار راميديدم (( درعين صفا ))
وزګلشن وصف اوګلی ميچدم (( بې خارجفا ))
ناګاه خروس سحر بيدار کرد (( ګويا زحد ))
ای کاش که بيدار نميګرديدم (( تاروز جزا ))

مستزاد هغه ډول ته وايي چې يوه مسره يې اوږده او بله يې لنډه ويل شوې وي او داسې ښکاري چې دغه لنډه مسره يې زيات کړای شوي وي ، له همدې امله ورته مستزاد ويل کيږي . ددې ډول نظم په مضمون کې ډول ډول مطالب عشقی ، پند، نصيحت ، حکمت او دنورو ټولنيزو چارو په سمون کې ويل کيږي .
دمستزاد په برخه کې دجانان دشعر يوه بيلګه :
جانان وايي :
نه غوږ لرم چې واورم نه خوله دخير ويل کړم
مدام منت په بل کړم
چې قهرراشي عقل مې مغلوب شي نوښکنځل کړم مدام منت پربل کړم

که هر څوکتابونه رنګ په رنګ وځانته ډير کړم
اوښې ترنظر تېر کړم

راپيښه بدبختي ده چې يو زه عمل کړم مدام
منت پربل کړم
مقصد مې ډيريده دي دروپو چې پنځ پوره شي عزت مې
په ښکاره شي
نه خېر نه خېرات نه په ښه لار کې ورکول کړم
مدام منت په بل کړم
چې رانيسم په شل روپۍ يوشی نو يې ساتمه په
ګران يې خرڅومه
که څوک وماته اړشو عاجز ترلاس مې لاندې په وبه
کړمه ساندې
دانه شته چې په عفوه اوښه خوی يې دځان خپل کړم
مدام منت په بل کړم
غلط همسايه توب په کړه لار باندې رهي يم وام سم
سړی صحي يم
مرض يم درد وغم يم نه دوا يم نه درمل کړم
مدام منت په بل کړم
په ټوکو مسخرو تشو ويلو افتخار کړم په کذب
هم اقرار کړم
په خوله دصداقت لافی کوم برګ برګ کتل کړم
مدام منت په بل کړم
نه مرګ مې زړه ته لويږي نه بيريږم له قيامته
بې ننګه بې غيرته
تردې ژوند ښه ((جانانه)) چې دقبرراستنيدل کړم
مدام منت په بل کړم

مستزاد په کلاسيک پېر کې دخوشال په ديوان کې نه موندل کيږي ، له دې امله مو دجانان دمستزاد بېلګه دلته راوړله . دنظم دا ډول په عربي او پارسي ادب کې ډيرې بېلګې لري ، مستزاد په پښتو ولسي ادبياتو کې هم ډيرې بېلګې لري .

دا ډول نظمونه په پښتو ژبه کې دعربي او فارسي ادب تر اغيز لاندې ويل شوي دي . مستزاد داسې کلام دی چې هر شعر يې دوه دوه مسرې وي او بيت يې مطلع وي . مطلع داسې يو بيت وي چې دواړه مسرې يې په يوه قافيه ويل شوي وي .

هره مسره يې دوه دوه ټوټې وي ، ديوې مسرې اوله ټوټه اوږده (١٧) سيلابه وي او ورپسې بله وړه ټوټه چې ((٧)) اووه سېلابه وي او ددې مسرې دواړه ټوټې په يوه مسره شمېرل کيږي چې ټول ((٢٤)) سېلابه کيږي . دهمدې بيت دويمه مسره په په دې ترتيب وي . دمطلع دځلورو واړو ټوټو قافيې سره يوه وي ، چې همدغې دويمې ټوټې يا لنډې ټوټې ته زيات شوي يا مستزاد ويل کيږي .

Ketabton.com

پورتنی مستزاد چې دجانان له خوا ویل شوی انتقادي سکالووې لري ، څکه دټولنې ناوړو کارونو باندې په ادبي نظم کې انتقاد کوي او دټولنې بدکارونه او بدکسان غندي .
په پښتو ادب کې د داسې نظمونو بېلګې خورا زیاتې دي . دلته یوازې دبېلګې په ډول په پورتني شعر بسنه کوو .

## ترجیع بند :

تکرار او رجوع ته ویل کیږي . دپښتو او دپښتو ځینې نظمونو په ډله کې یو ژانر دی . دپښتو ادب کلاسیک باغ وبڼ دترجیع بند دښکلاګانو بېلګې زیاتې لري ، لکه چې درباعي په برخه کې دې موضوع ته اشاره وشوه چې خوشال خان خټک دنورو ادبي ډولونو او ژانرونو په نوښتونو کې په دې ژانر کې هم خپل شعري استعداد ازمویلی دی .
ترجیع بند په دري ادب کې دڅلورمې هجري پیړۍ په لومړیو کلونو کې دمنوچهري له خوا رامنځ ته شوی دی ، موضوع ته مو دمسمط په بحث کې اشاره کړې ده .
ترجیع بند داسې یو فورم او شکل لري چې پنځه ، اووه یا نهه بیتونه په یوه قافیه او وزن ویل کیږي او بیا یوه بیت په بله قافیه وویل شي ، یعنی شپږ م، اتم او لسم بیتونه بل ډول قافیه ولري . دنظم همدغه نظم ونسق ترپایه دوام کوي .
په نظم کې چې پس له ذکر شوو تعداد بیتونو یو مخالف القافیه بیت ذکر شي ، ترجیع بند یې بولي ، چې دترجیع لفظي مانا هم په همدې ډول بیتونو دلالت کوي .

پیرمحمدکاکړ وایي :

ستادمخ په تورو زلفو زه شیدایم
صبح وشام په اه فغان په واویلایم
په فراق کې دې تل خورم دځیګر وینې
صبروتوان مې بې تا نشته مبتلایم
نن فلک راباندې تیغ دجور وکېښ
له سرو وینو ډک لړمون لکه حنایم
رقیبان راسره جنګ وجدل کاندي
په دربارکې دې دسپیو مدعایم

غزاله غوندې وحشي راڅخه مه شه
زه صیاد دې ددیدن په تمنایم
که شل کاله دې ماڼی وي ، له مایاره
بیګانه مې هنوز مه ګڼه اشنایم
له اشنا مه کړه ماڼی وفا یې ده
چې سیزي مین بې اوره جدایي ده
غم اند وه دبیلتانه راباندې ډیر شو
دمخ رنګ مې له حسرته په بل پیر شو

اه افسوس چې تل کوم له دردو سوزه
اور دعشق په خاطر باندې چاپېر شو
هم په داچې همېش ځای دتادغم دي
خراب دل مې له جمله هوسه سېر شو
له اغیاره چې مدام خندا هوس کړي
قدیم یار دی اوس له دله مګرهېر شو
روغ عالم دې کړ سیراب په لعلی لبو
جام دشهدو درنځور زهرو ګند پر شو
سم له عمره له اشنا که دی مانې وي
عاقبت به په ارمان کې خپله سېر شو
له اشنا مکړه مانې بې وفايي ده
چې سیزي مین بې اوره جدايي ده .

داوو دترجیع بند یوه بیلګه چې په کلاسیک پېر کې ددې ډول نظم په برخه کې ولیکل شوه .
په کلاسیک پېر کې دنظم ویلو د دود سره سم دترجیع بند دور هم پرمختګ کړی دی او دټولنیز چاپیریال داغېزو له امله يې همغه ډول رنګ اخېستی دی .
دترجیع بند موضوع زیاتره عشق ده ، نو ویل کیږي چې دلیریک یادبدلې ډول په برخه کې دغه ژانر مطالعه کیدای شي . دترجیع بند په مضمون کې نور مسایل لکه پنداو نصیحت هم راغلي دي او کله کله يې ټولنیز اخلاق او اداب هم ځرګند او انځورکړي دي .

## ترکیب بند :

دا ډول نظم هم دپښتو ادب دکلاسیک ادبي نظم په ډولونو او ژانرونو کې ډېر لیدل کیږي ، خوشال خان خټک او دد ې پېر نور پښتانه شاعران په دې ژانر کې نظمونه ویلي دي .
دا ډول نظم دترجیع بند په شان جوړیږي چې پس له هر بنده دتوپیر او جداوالي داسې یو بیت راوړل کیږي چې دترجیع بند سره توپیر لري . یعنی په ترجیع بند کې دټولو بندونو دپاره یو بیت تکراریږي ، لیکن په ترکیب بند کې دهر بند بیلیدونکی بیت بېل وي . په ترکیب بند کې هم خواږه خواږه مطالب بزمي او عشقي مضامین راوړل کیږي . په دې نظم کې هم دنازک خیالۍ او باریک بینۍ خوا ډیره شتمنه ده او هر راز ټولنیز مضامین او مقاصد په خوږو الفاظو او اهنګ سره په کې ستایل کیږي .
په دې برخه کې دعبدالحمید مومند یو ترکیب بند دبېلګې په ډول راوړو .
عبدالحمید وايي :
نن به شپه زما دیار په کوم مکان وي

جلوه گر به په کوم هټ په کوم دکان وي
شرمولی به یې حسن کوم ترکان وي
کوم دکان به یې دخولې د درو کان وي
په ډیوه به یې دمخ څو پنګان وي
هم په خوا به یې پاکان که ناپاکان وي
ولې نه چوې له دې غمه زما دله
چې دې واوریده دیار دتلو بدله
نه به وي ورسره هسې مسلمان څوک
چې یې واخلې خسمانه داب و نان څوک
نه به وي وربانددې هسې مهربان څوک
چې یې وبولې په جار او په قربان څوک
یایې سیوری کا پر سر لاس داحسان څوک
یایې وکا دبل کار سرو سامان څوک
چې له هسې غمه نه مرم ژوندی پایم
تو زما په محبت شه بې وفا یم
خود په خود به وي ولاړ سترې ستومان
خسته دل په خسمانه داب ونان
ارزان مال به له ناکامه وي پرې ګران
قیمتي یاقوت به پلوري رایګان
دبیقدرو صرافانو په دوکان کې
ددې غمه اه افسوس ارمان ارمان
راکړه خدای په داګړی پرداهمت
چې حاضر شوای دبیکسو په خدمت
ګوره ناست به وي خپه په ځینو خرو کې
که به پروت وي لکه لعل په ایرو کې
کوم سرود به که له زړه سره په ورو کې
دسرو مهر به غواړي په پیرو کې
نه به مومي دغه نور په دا بشرو کې
که به ځان لره وي ډوب په خطرو کې
داکوم شرم دی کوم ننګ په محبت کې
چې غمخور نه شو دیار په دا غربت کې
خوب به نه ورځي له ډیرې ستومانی
بوګنوي به یې ملو بدګمانۍ
نه به وړاندې ځي زړه ور په ښادمانی
نه به بیرته شي راتلای له پیشمانۍ
دهر سپي به په امید د امانی
چپړوسي کا دنړۍ په مهمانۍ
چې دې یار پیڅي داهسې کرم نرم
ته په کومه حیاروغ ګرځې بې شرم
په قهقه به یې خندلی وي که نه وي
دزړه غم یې غولیدلی وي که نه وي

Ketabton.com

فراغت به يې پسندلی وي که نه وي
چابه حال ترې پښتيدلی وي که نه وي
کټ پوزی به يې موندلی وي که نه وي
غنچه وار به مسيدلی وي که نه وي
نشته ماغوندې بې پت څوک په يارۍ کې
چې همدم نه شوم ديار په داخوارۍ کې
دم به خود وي تريو تريخ دغم له ګوټه
پرانيستی به چاته نه شي دزړه غوټه
پرې به وي هره متاع وهوس تروته
اوبه کيږي به له غمه لکه لوټه
داخلاص مزه به نه مومي له پوته
اه افسوس به وي ورپاته له دې لوټه
که دې مينه وي رښتيا له دې رموزه
سرترپايه شنه لمبه شه شنه دډوزه

لابه نه وي ويده شوي بيا به ويښ شي
که هر څويې زړه په خوب وي پسې ويښ شي
هيڅ به نه مومي قابو کاروان به ليښ شي
لاعلاج به دناکام په لاس راکيښ شي
که يې سل خوارړه دحسن په ګواښ کيښ شي
دم قدم به لکه پند دګنې زبيښ شي
يار په دارنګه بې خوبه بې ارامه
ته په دارنګه بې غم نمک حرامه
په منزل به يې سبا ګوره څوک مله وي
نه پوهيږم چې به سار وي که به غله وي
په څه شان بۀ شکسته زهير په زړه وي
له نغمې به يې دزړه نغمه په خوله وي
دم قدم به يې خولې دمخ په وله وي
رانجه کړي به يې چا خاوري دپله وي
سزا وار دهر ستم دهر پيغور يم
چې مې يار په سفر تللی زه په کوريم
په څه شان به غم زده دړومي په لارې
په ګردو يې الوده سپينې رخسارې
زړه په خار دبې کسی يې پارې پارې
ابلې پښې به يې وهې دوينو دارې
نه به وي هسې هندو مسلمان بارې
چې يې وکه دلاسا په يوه چارې
نه مې شرم شته نه درم په حساب کې
چې له يار سره لاړ نشوم په رکاب کې
که هرڅو په غړو غړند په پښو شل واى
په سينه پسې څکيداى داشنا مل واى
درست دغم په خنډوخار سره څوځل واى

Ketabton.com

د هر چاپه داپیغور ملامت غل وای
راپیښ شوی هر نقصان او هر زلل وای
خو دیار سره مې کړی دا منزل وای
چې ترې پاتې شوم رښتینی عاشق نه یم
سرترپایه دروغجن یم صادق نه یم
یادیاره سره تللی په سفر وای
په هرڅای مې غوړلی پرې وزر وای
یا یې مړ دبیلتانه له غمه ژر وای
یا په دواړو سترګو تپ ړوند په نظر وای
که دا نه کیدای هر ګز معتذر وای
خود په خود مې ځان وهلی په خنجر وای
هسې پاتې شوم ترپار پورې مخ توری
په جرګه دعاشقانو کې کوز ګوری
داڅه مینه محبت څه عاشقي ده
داڅه پت څه مروت څه صادقي ده
دم په دم دغابازی منافقي ده
په مذهب دعاشقانو فاسقي ده
راسره ناقابلي نالایقي ده
په ذمه مې دسنګسار ګناه باقي ده

چې مې یار په سفر تللی زه په کور یم
ګویا مخ په تبۍ تور او په خره سپور یم
چې مې یار په هندو بار او زه په کور یم
نه دغمه پسې مړ نه کر او کور یم
نه بې هوښه نه پښې پلې نه سرتوریم
خواږه خورم اوبه څښم په خندا خوریم
دیار یاردخپلو خپل دورونو ورور یم
لکه ومه هغه شان په خپل انځور یم
دحمیددا زنده ګي شرمنده ګي ده
که یې مړ که عزائیل نه بنده ګي ده
( اشنا:۱۳۳۶، ۶۱-۶۷ مخونه )

## دپښتو کلاسیک نظم مانیز ( معنوي ) ډولونه :

هغه نظمونه چې په کلاسیک پېر کې دجولې له مخې دود وو ، په پورته ډول څرګندشول . ددې مهال نظمونه او شعرونه زیات عربي وزنونو ته نږدې لیکل شوي دي ، چې دهر ادبي ژانر په جولې کې بېلابېلې موضوعګانې راغلي او لیکل شوي دي .
دپښتو په کلاسیک ادب کې ویاړنه ، ستاینه ، غندنه ، ویرنه ، عشقي ، قصصي ، اخلاقي ، ټولنیزې ، دیني ، تاریخي ، حماسي ، قومي ، انتقادي ، اصلاحي او نور موضوعا ت په خوږو کلماتو او الفاظو کې بیان شوي او

Ketabton.com

ښودل شوي دي چې دپورتنيو ادبي موضوعاتو بېلګې په لاندې ډول څرګندوو .

١- وياړنه :

دپښتو لومړنی لاس ته راغلی شعر دامير کروړ (١٣٩ هـ ) حماسي شعر دی چې وياړنه يې بولي ، وياړ دوياړل له مصدره څخه دی چې دافتخار مانا ورکوي ، وياړنه هغه شعر دی چې شاعر دخپل ولس ، خلکو او وطن دسرلوړی اولوړوالي په برخه کې ويلي وي او يا دا چې شاعر داسې شيان ، الفاظ او کلمات بيان کړي چې په هغې ووياړي .

لکه دامير کروړ دوياړنې لاندې څوبيتونه :

زه يم زمری پر دې نړۍ له ما اتل نسته
په هندو سند و پرتخار وپرکابل نسته
بل په زابل نسته له ما اتل نسته

بله حماسي سندره چې يادولی يې شو هغه دملکيار غرشين ٥٧١ هـ کال سندره ده چې بيلګه يې داسې ده :

غازيانو راسئ تول شاوخواسئ دشهاب په ملاشئ
ښتن مو مل دی اوس مو يرغل دی

همدارنګه دهوتک بابا سندر ه چې دچنګيز ديرغل په وخت کې ويلې لرغونې حماسي سندره ده ، چې لومړني بيتونه يې داسې دي .

دمرغی غښتليو راشئ پرنګ ولاړ دپښتونخوا شئ
په کلي کور باندې مغل راغی
( رشتين : ١٣٤٧ ، ٤٥ مخ ) .

دلرغوني پېر څخه نيولې بيا ترننه پورې دپښتو ادب ، په حماسي او جنګي شعرونو او نظمونو ډک دی . په دې برخه کې خوشال خان خټک خو دتورې او قلم شاعر دی . خوشال خان خټک حماسي اشعار چې ديوان يې پرې ډک دی ، دکلاسيک پېر دوياړونو په برخه کې لوړه بېلګه ده .
پښتنو شاعرانو نه يوازې داچې حماسي شعرونه ويلي بلکې دوطن په خاطر توره ترملا دجنګ ميدان کې لويېدلي هم دي .

٢- ستاينه :

په پښتو کې ستاينې دلرغوني پېر څخه نيولې ان تراوسه دود دی ، خو دپښتو ادب ستاينې دپارسي ادب په شان زياتې نه دي او هم پښتانه شاعران هيڅکله په ستاينه کې زياتې نه دی کړی . دوی دخپلو مشرانو ستاينې کړي دي خو داسې نه چې دومره ستاينه يې وشي چې ستاوونکی يې دځمکې پرمخ پيدانه شي . په پښتو ادب کې تر ټولو

لومړنۍ ستاينه دتايمني نومي شاعر ده چې دسلطان غياث الدين توره يې ستايلې ده لکه چې وايي :

دفيروز کوه او غور ړنا له ده ده هم دتېرو تورو برېښنا له ده ده
غياث الدين دغور زمرى عالي شان داسلام دين دده په توره روښان

بله ستاينه دښکارونډوى ده چې دسلطان شهاب الدين دمېړاني په هکله يې کړې ده .
په زابل چې دبري په نيلي سور شي په لاهور يې دمېړانې ګوزارونه
داسلام ددين شهاب دنړۍ نمر دى تور ستان يې کړ ړنا په جهادونه
پښتنو شاعرانو دلويو شاعرانو په ستاينه کې هم ښه شعرونه ويلي دي خو دمبالغې نه يې په کې کار نه دى اخېستى .
ميراحمدشاه رضواني دخوشال بابا په باره کې وايي :
په پښتو ژبه کې ډېر وو شاعران خو په واړو کې بادشاه وو خوشال خان
هيڅ ايسارنه دى په لوړ او په ژورو نه پوهيږم ابا سيند دى که طوفان
مقالات يې واقعي او حسب حال دي نه فرضي ويل چې کاندي شاعران
پيرمحمدکاکړ ، رحمان بابا او حميد مومند په ستاينه کې وايي :
جوړ په شعر کې رحمان غيب اللسان دى په دا ځېر نشته هرګز دانسان شعر
پس له دويه موشګاف عبدالحميد دى چې يې ووې ښه نازک نکته دان شعر
( رښتين : ۱۳۴۷، ٤٦ مخ ) .
داسې شعرونه په کلاسيک پېر کې چې ستاينې په کې وي خورا زياتې بيلګې لري .

۳- غندنه :

په پښتو شعر کې دغندنې موضوعګانې هم راغلي دي ، داسې اشعار په کلاسيک پېر کې خوشال خان خټک او ددغې پېر نورو شاعرانو هم ويلي دي .
خوشال خان وايي :
چې په نام پښتون غوځيږي دى خوشيږي
اورنګ هسې رنګ پادشاه دى داسلام
خوشال بابا دخپل زوى بهرام داسې غندنه کوي :
تاهنر دسرداري نه زده بهرامه سرداري دې په خپل دورکړه بدنامه

Ketabton.com

هم تمامي خيلخاني لره بلاشوې هم خپل ځان لره
بلاشوې بدفرجامه
نوردې نوم زما دزويه په شمارمه شه دخوشال ختک
وينا په دا تمامه

اشرف خان دبهرام په باب ويلي .
يو مضحک د اکوړې په مسند ناست دی
له شرمونه يې په گورشرم يحيی کا
( رښتين : ۱۳٤۷، ٤٦ مخ ) .

٤- ويرنه :

په پښتو ادب کې له لرغونو مهالونو څخه دود دی . په پښتو شعرونو کې دملي مشرانو ، خپلوانو او دوستانو دمړينې په وخت کې ويرنې ساندې ويلی شوي دي .
لرغونې ويرنه د (٤٢٥ هـ -ق) دشيخ اسعد سوري بولله ده چې دامير محمدسوري په مړينه کې يې ويلی ده ، چې څوبيتونه يې په لاندې ډول دي .

دفلک له چارو څه وکړم کوکار زمولوی هرگل
چې خاندي په بهار
هرغاټول چې په بيديا غوړول وکا ريژوي يې
پاڼې کاندي تار په تار
ډير مخونه دفلک څپيړوشنه کا ډيرسرونه کا
ترخاورو لاندې زار

په پورته ويرنه کې شيخ اسعد سوري دامير محمد، عدل ، ننگ او غيرت يادوي او خپلې ويرنې ته تولنيز او ملي رنگ ورکوي .
پښتو ويرنې په کلاسيک پېر کې هم ويلی شوي دي ، لکه چې خوشال خان ختک دخپل زوی نظام په مړينه کې يوه اوږده بولله ويلې چې دقصيدې دژانر دځرگندونې په برخه کې راوړل شوی بيا يې دتکرار ضرورت نه ليدل کيږي .
ميرمن زينبې دخپل ورور شاه محمود هوتک په مړينه کې دپښتني ننگ او غيرت نه ډکه ويرنه ويلې ده چې څوبيتونه يې داسې دي :

ځوان و ، مېړه دتورې جنگ ونا ولاړ دکام
په نام وننگ ونا
دښمن له ده په وينو رنگ ونا پر ميدان
شېر و يا پلنگ ونا
افسوس چې مرگ دده پرخوا سونا
کندهار واړه په ژړا سو نا

محموده نه یوازې خور ژاړي لښکرسپاه دې
پلی سپور ژاړي
خپلوان لاځه پاچا دې وروور ژاړي په مرګ دې ټوله
کلی کور ژاړي
پښتون دې ټول په واویلا سونا
کندهار واړه په ژړا سونا

اشرف خان هجري دخپل پلار په مړینه کې اوږده قصیده
ویلې چې ځوبیتونه یې داسې دي :

مسافر شو هغه بشر دجبالونو چې زهره ځینی اوبه
د اورنګ شاه ده
نه یې زویه پرې حاضرنه برادار و سا یې قبضه
دغمونو په صحراده
دجبال غرځه یې ژاړي په زاریو دسړیو باندې
هی نه یې صداد ه
دختکو عزت هاله چې دی روغ و دا حیات یې
پس له ده باد هواده
هغه خوله چې درافشان وپه وګړي نن یې
ګونګه په لحدژبه ګویا ده
چې چراغ دهنر ځمکې پوشیده کړ که یې
زه په اوښکو ډوبه کړم سزاده
دزړه جوش به تمام نه شي په ویلو
طولاني قصیده کم په دا وینا ده

دولت خان لواني دخپل خلیفه علي محمدمخلص په مړینه کې
داسې ساندې ویلي دي :

نن دیده زړه مې محزون شو په مخلص یار پسې
خون شو
مایې زیرمه د دواکړه د رد یې لاتر حد
افزون شو
یوساعت مې نه هیریږي دی زما په زړه
زرغون شو
روح یې والوت واسمان ته تن یې پټ په
خاک مدفون شو

## کیسه او داستان :

په پښتو ادب کې زیاتره کیسې او داستانونه دمثنوي په جولې کې راغلي دي لکه یوسف زلیخا ، لیلی -مجنون ، نیرنګ عشق ، شاګدا او نور .
ددې کیسو ځخه ځیني له پارسي نظمونو ځخه ترجمه شوي او ځیني بیا په خپله دپښتنو ادب پانګې دي لکه ادم خان درخانی ، شهي او دلی او نور .
په پښتو کې ځیني کیسې د بوللې په جولې کې هم ویل شوي دي ، لکه دفیاض شاعر شهزاده .

Ketabton.com

بهرام او گل اندامی کيسه دعصام دليلی او مجنون کيسيه او نور .

## جنگي اشعار :

په پښتو کې جنگي اشعار هم ويل شوي دي ، په دې شعرونو اونظمونو کې ځيني تاريخي جنگونه په نظم سره ويل شوي دي ، لکه دريدي خان مومند محمود نامه او نور .

دغه ډول دانگريزانو په وخت کې هم ډيرې جنگي چاربيتې ويل شوي دي چې تاريخي ارزښت لري . ( رښتين : ١٣٤٧، ٤٨ مخ ) .

ديني شعرونه :

په پښتو ادب کې ديني اشعار خورا زيات ويل شوي دي ، دپښتو دليکني ادب زياته برخه په دې ډول اشعارو ډکه ده ، درويشان او درويشان دشاگردانو او کورنی دشعر ځانگړتيا همداده چې ټول ديني اومذهبي موضوعگانې په خپلو اشعارو کې راوړي دي .

خوشال خان په دې برخه کې ځانله يو کتاب ليکلی چې (( فضل نامه )) نوميږي .

تنقيدي او اصلاحي موضوعات : دا ډول شعرونه دپښتو ادب په ټولو ديوانونو کې شته لکه چې خوشال خان وايي :

تا په زړه کې سل خدايان دي کښېنولي راته وايه سروچاته په زمين ږدي

عبدالقادر خان وايي :

نشانه دخدای دقهر به حاکم وي چې هيڅ عدل و انصاف نه لري ظالم وي .

( رښتين : ١٣٤٧، ٤٩ مخ ) .

علمي او طبي موضوعات :

دخوشال خان ختک طب نامه يې ښه بيلگه ده . په پورته ډول مو دکلاسيک په پېر کې دشعر په موضوعاتو څرگندونې وکړې . په دې څرگندونو کې کومې بيلگې چې راوړل شوي ، زياته برخه يې دپوهاند رښتين له قلمي پاڼو څخه گټه اخيستل شوې ده . څرنگه چې دکلاسيک پېر دنظم په مانوي ځانگړتياو څه ناڅه رڼا واچول شو ه، له دې سره سره په پښتو ژبه او ادب کې شعرونه دموضوعاتو له پلوه په لاندنيو عمومي برخو او يا ډولونو ويشي .

## دموضوع له پلوه دنظم ډولونه :

نظم دموضوع له پلوه په دريو ډولونو ويشل کيږي ، اخلاقي شعرونه ، وصفي شعرونه ، قصصي شعرونه.

۱- اخلاقي شعرونه :

دا هغه شعرونه او نظمونه دي چې موضوع یې پند ، نصیحت ، حکمت ، اخلاق او نیکي خبرې وي ، لکه داخوند درویزه ( مخزن الاسلام ) ځیني برخې ، درحمان بابا شعرونه، ځیني افسانې او کیسې چې اخلاقي اړخ لري .
تصوفي او مذهبي شعرونه لکه چې مخکې مو په ځانګړي توګه په دې برخه که کې څرګندوني و کړې، هم راځي . دغه ډول موضوعات دکلاسیک پېر په ادبي زیړونو کې خورا زیات لیدل کیږي ، په دې پېر کې دعبدالقادر خان خټک لاندیني غزل دبیلګې په ډول لیکو :

چې قانع په یوه څاڅکي شي صدف قیمتي ګوهر یې ځي په هرطرف
که عزت غواړې قانع په خپل قسمت شه ورکړه کړه که بزرګي غواړې شرف
بندول ددنیا بند دجهنم دی ازاده و ځکه کښینول په کف
ددنیا خلک مې ولیده په سترګو یویې جمع په حرص کا بل تلف
چې ژوندون همیشه نشته په داڅه شو په حشمت که سلیمان شي یا اصف
چې سړی څریښت په هم په حکمت شي دځاریو څریدل وي په علف
که ځوان مرد یې بل ازار مکړه په ګلو ځان دښو بدو تېزنه کړي هدف
تل له خدایه ترس کوه عبدالقادره
حق خایف ته دی ویلي (( لاتحف )) ( باري اشنا : ۱۳۳۶، ۴۳مخ ) .

۲- وصفي شعرونه :

هغه شعرونه دي چې شاعران یا ناظمان دطبیعت ، ښکلا ، عشقي او ذوقي موضوعګانې او همدارنګه په زړه پورې منظرې لکه دپسرلي ښکلا ، دخزان ، ستورو ، سپوږمۍ ، ابشارونو او نور خپلو شعرونو او نظمونو کې څرګند کړي .
دخوشال خان خټک ، رحمان بابا ، عبدالقادر خان خټک ، اشرف خان هجري ، عبدالحمید مومند ، کاظم خان شیدا ، محمدي صاحبزاده ، پیرمحمدکاکړ او نورو شاعرانو شعرونه دغه پورتنۍ موضوعګانې لري ، له دې وصفي شعرونو زیاتې بیلګې په لرغوني پېر کې دپښتو ژبې او ادب په بډاینه کې وړ نده رول لوبولی دی .
دلته دبیلګې په ډول په کلاسیک پېرکې ددې ډول شعرونو څخه دعبدالقادر خان خټک لاندې شعر راوړو:

شګفته په باغ وراغ شو دبهار ګل هم په بام
هم په کوڅه هم په ديوار ګل
نه يوازې ګل دګلو بوټي وينو بادام ګل
شفتالو ګل وينو انارګل
هراشيادځمکې ګل پروردګار کړه جمادات ګل
نباتات ګل کل اشجار ګل
کاڼي بوټي خارو خس په ګلوپټ شول دهمه واړه
عيبونو شو ستارګل
څو دسترګونظر لګي واړه ګل دی وړاندې ګل
وروسته ګل يمين بسيارګل
هيڅ يوځای خالي له ګلو پاتې نه شو په بازار ګل
په صحرا ګل په کوهسار ګل
که اسمان په شپه په ستورو ښايسته وي لا
ترمځکه ښايسته کړه په بهار ګل
عندليب نارې وهي چې سيل کاندي بهار درومي
ريژيدون کا په وار وار ګل

ترپايه

( باري اشنا: ١٣٣٦، ٤٤ مخ . )

## ٣- قصصي شعرونه :

په دې ډول شعرونوکې شاعرانو او ناظمانو تاريخي پيښې او ځينې کيسې که خيالي وي يا حقيقي څرګند وي ، لکه دعبدالحميد مومند نيرنګ عشق ، دلی او شهي - دريدي خان محمود نامه او نور .

## پايليزه ( نتيجه )

پښتو ادب دژوندانه په اوږده بهير کې نه يوازې وده او پرمختيا کړې ده ، بلکې د ډولونو او نوو ادبي زيږونو په رامنځ ته کولو سره ددې ولس په ادبي بډاينه کې دپام وړ اغېزې ښندلې دي .

دپښتو ادب دلوړ والي او پرمختګ ريښې ان ددې ژبې او ادب په لومړنيو هغو شېبو کې لټولای شو چې ددې ژبې ويوونکي په ګړني ډول داوازونو او غاړو په ويلو سره په ټولنيز ډول اوس په کار شوي دي .

دغه اثر چې ديوې ځانګړې تاريخي مودې دنظم پرڅرنګوالي باندې ليکل شوی دی ، دپښتو ژبې او ادب ټولې خواوې او ډولونه اوهم ددې ټولې ادبي زيږونې نه شي څرګندولای ،خو يوازې دليکلو موادو په ترلاسه کيدو سره دنظم پر هغو ژانرونو باندې څېړنه شوې چې

په دې مهال کې شته والی درلود ، خو تراوسه چاپرې داسې کار نه دی کړی چې دجولې او منځپانګې له پلوه او هم دموضوعګانو دځرنګوالي له اړخه دغه ادبي ډولونه ځرګندشوي واي .

دپښتو ادب دنظم کلاسیک ژانرونه دلرغوني پېرونو د ادبي زیږونو دبشپړتیا پایله ده . په دې پېر کې دپښتو ژبې او ادب دادبي زیږندویانو دنظم پر زیږونو نوښتونو او نورو منځپانګیزو جوړښتونو باندې ځرګندونې دتیرو مهالونو د ادبي زیږونو بیلګې هم ښودلای شي .

له همدې امله دغه کوچنی اثر دکلاسیک نظم پر ژانرونو باندې داسې نوې لیکنه ده چې تر دې پخوا په داسې ډول چا ګام نه و پورته کړی او نه یې داسې یو څه لیکلي وو چې ددې لیکنې په پاڼو کې یې تاسو ګورئ .

په دې اثر کې د هر ژانر ځرګندونه دجولیز او منځپانګیز جوړښت له پلوه او هم دځېلونو( ژانرونو) دلومړنیو بیلګو په راوړلو سره ترسره شوي دي .

له دې کبله دغه اثر دهغه چالپاره چې غواړي دپښتو ژبې دنظم پر ژانرونو باندې څه ولیکي او یا داچې ددې ژانرونو پرځرنګوالي باندې په کلاسیک پېر کې پوه شي دیو اخځ په توګه ترې کار اخېستل کیدای شي .

دغه لیکنه په کلاسیک پېر کې دنظم پرجولیز جوړښت سربېره په منځپانګیز جوړښت کې چې دمانوي ډولونو ځرنګوالی دی هم تر یوې اندازې پورې دنظم دبرخې مینه والو ته څه ناڅه ځرګندونې کړي دي چې دغه ځرګندونې تر زیاتې اندازې زموږ دټولنې دخلکو دټولنیز ژوندځانګړتیاوې ښودلای شي .

همدارنګه دغه اثر دښوونځیو او پوهنتون دلیسانس ددورې زده کوونکو لپاره دادبیاتو دیوې برخې په توګه معلومات وړاندې کوي .

په پای کې زما وړاندیز دادی چې که څه هم دغه اثر د ډیرو نیمګړتیاوو درلودونکی دی ، غوښتنه کوم چې ښاغلي لوستونکي دنیمګړتیاوو په سمون کې له ماسره مرسته وکړي ، څو په راتلونکې کې د ادبي ژانرونو په ښودلو کې دخپلو خلکو په وړاندې خپله تاریخي دنده په ښه والي سره سرته ورسوم . ددې اثر په بشپړتیا کې دښاغلي مجاور احمدزیار څخه دزړه له کومې مننه کوم چې ماته یې ددې لیکنې په بشپړیدو کې په ورین تندي لارښوونه کړې ده .

Ketabton.com

## اخځونه


١- اشنا ، عبدالباري ، ادبيات اطلاعات وكلتور ، كندهار مطبعه . كندهار ١٣٣٦

٢- الفت ، ګل پاچا ، ادبي بحثونه ، پښتو ټولنه كابل . ١٣٤٢

٣- جاج، حبيب الله ، فلكلور ، لكچر نوټ كابل . ١٣٦٩

٤- جاج ، حبيب الله ، كلاسيک ، قلمي نسخه كابل . ١٣٦٩

٥- جلال الدين ، په پښتو كې دمثنوي پيدايښت . كابل پوهنتون ١٣٦٠

٦- حبيبي ، عبدالحى ، پښتو نثر ته كره كتنې ، علومو اكاډمى . كابل ١٣٦٠

٧- حبيبي ، عبدالحى ، دپښتو ادبياتو تاريخ ، دويم ټوک . پښتو ټولنه كابل . ١٣٤٩

٨- حبيبي ، عبدالحى ، دپښتو ادبياتو تاريخ ، لومړى چاپ دويم ټوک . پښتو ټولنه كابل ١٣٣٨

٩- حبيبي ، عبدالحى ، قصيده څنګه او چېرې پيداشوه . علومو اكاډمي . كابل ١٣٥٧

١٠- رشاد، عبدالشكور. لس مقالې . علومو اكاډمي ، كابل . ١٣٦٧

١١- رښتين ، صديق الله . دپښتوادبي مكتبونه . پېښور ١٩٨٨

١٢- رښتين ، صديق الله . پښتو نظم . قلمي نسخه . كابل ١٣٤٧

١٣- روهي ، محمدصديق (( شعريت يعنى څه )) ، څلورمه ګڼه كابل مجله .كال عقرب –قوس ١٣٦٦

١٤- روهي ، محمدصديق . ادبي څېړنې . دلوړو او مسلكي تحصيلاتو وزارت ننګرهار پوهنتون ١٣٦٢

١٥- روهي ،محمدصديق . فلكورپېژندنه . كابل مجله ٧٩٩ګڼه . كال قوس ١٣٦٥

١٦- رفيع ، حبيب الله . دخلكو سندرې . دتاريخ او ادب ټولنه كابل . ١٣٤٩

١٧- زيار، مجاور احمد. پښتو شعر څنګه جوړيږي . داطلاعاتو او كولتور وزارت

دولتي مطبعه . کابل
١٣٦٩

١٨- زیار، مجاور احمد.(( اوسنی ازاد پښتو شعر دخپل ازاد فلکوري شعر. بشیرتیایي بڼه ))
کابل مجله ، ٢٤ گڼه
کال ، دلوه-حوت ١٣٦٧

١٩- شینواری ، دوست . دادب تیوري اساسونه . علومو اکاډمي . کابل ١٣٦٥

٢٠- صفا، ذبیح الله . تاریخ ادبیات ایران . دویم چاپ . تهران . ١٣٤٢

٢١- عمید، حسن . فرهنگ لغات فارسی . پنځم چاپ . انتشارات امیر کبیرتهران ١٣٥٠

٢٢- غمجن ، نورمحمد. دحمیددیوان منتخبات ، کابل پوهنتون . چاپ ١٣٥٩

٢٣- قویم ، قیوم . بحثهای درزمینه ادبیات و موضوع انواع ومکتب ها . انتقاد ادبی
کابل پوهنتون ، چاپ
١٣٤٩

٢٤- قویم،قیوم . فنون ادبی . کابل پوهنتون . کابل
١٣٦٢

٢٥- کامل ، دوست محمد.دخوشال خان خټک کلیات . دویم چاپ
کابل
پښتو اکاډمي
١٩٦٠

٢٦- کیاخانلري ، زهرا . فرهنگ ادبیات فارسی – دری . تهران ١٣٤٩

٢٧- منانوف ، عبدالرحیم . (( روښانی نهضت او میرزاخان انصاری . کابل مجله
١٢گڼه ، ٤١ مخ کال
، عقرب ١٣٥٣

٢٨- ملنگ جان . خوږې نغمې . پښتو ټولنه . کابل . ١٣٤٨

٢٩- نعمانی ، شبلی . شعرالعجم . دویم چاپ . تهران ١٣٣٥

٣٠- نومیالی ، محمدانور . امیرکروړ یاد. پښتو ټولنه . کابل ١٣٦٢

٣١- هوتک ، محمد. پټه خزانه ( دعلامه عبدالحی حبیبي په تحسیه اوتعلیف) دویم چاپ
اطلاعاتو او کلتور وزارت . بیهقی موسسه ١٣٥٤


Ketabton.com

Ketabton.com